# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

صوبائی اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 19 اگست 2008ء بمطابق 16 شعبان 1429ھ صبح گیارہ بجکر پانچ منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب ڈپٹی سپیکر، خوشدل خان ایڈوکیٹ مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

**اعوذ باللہ من الشطن الرجیم ۔ بسم اللہ الرحمن الرحیم۔**

**وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ ۙ وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَـٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ ۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِی ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ O ثُمَّ جَعَلۡنَـٰكُمۡ خَلَـٰٓئِفَ فِی ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ۔ صدق اللہ العظیم۔**

( ترجمہ): اور تم سے پہلے ہم کئی امتوں کو جب انہوں نے ظلم کا راستہ اختیار کیا ہلاک کر چکے ہیں۔ اور ان کے پاس پیغمبر کھلی نشانیاں لے کر آئے مگر وہ ایسے نہ تھے کہ ایمان لاتے۔ ہم گنہگار لوگوں کو اسی طرح بدلہ دیا کرتے ہیں۔ پھر ہم نے ان کے بعد تم لوگوں کو ملک میں خلیفہ بنایا تاکہ دیکھیں تم کیسے کام کرتے ہو۔ و آخر **الدعوانا انالحمد للہ رب العالمین۔**

## نشانزدہ سوالات اوران کے جوابات

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> 'Questions' Hour' شروع کرتے ہیں۔ کوئسچن نمبر 10، اسرار اللہ خان گنڈاپور، آنریبل ایم پی اے۔

* 10 _ <u>جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور:</u> کیاوزیر بلدیات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ محکمہ نے تعمیر سرحد پروگرام کے فنڈ پر دو فیصد کے حساب سے گزشتہ چند سالوں سے کٹ لگایا ہوا تھا؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو:

(1) سال 2002-03 سے لیکر اب تک اس میں کل کتنی رقم جمع ہوئی ہے:

(2) مذکورہ کٹوتی کی منظوری کس نے دی تھی اوراس کو کونسا مد دیا گیا ہے، نیز مذکورہ رقم کس مد میں استعمال کی گئی ہے، تفصیل بتائی جائے:

(3) آیا اب بھی اس مد میں رقم موجود ہے، اگر ہے تو آیا حکومت بقایا رقم ایم پی ایز کے حوالے کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

<u>جناب بشیر احمد بلور [سینیئر وزیر (بلدیات)]</u> (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں، یہ درست ہے کہ حکومت صوبہ سرحد، محکمہ بلدیات و دیہی ترقی نے مالی سال 2002-03 اور 2003-04 تعمیر سرحد پروگرام کے تحت ہر ممبر صوبائی اسمبلی کے جملہ فنڈ سے دو فیصد کٹوتی کی تھی۔

(ب) (1) مالی سال 2002-03 اور 2003-04 کیلئے مختص شدہ فنڈ سے مبلغ دو کروڑ، ترالیس لاکھ، اکیس ہزار، چھ سو چونتیس روپے کی کٹوتی کی گئی تھی۔

(2) صوبائی حکومت نے دو فیصد کے حساب سے تعمیر سرحد پروگرام کے فنڈ سے کٹوتی کی اجازت دی تھی لیکن بعد میں صوبائی کابینہ کے اجلاس منعقدہ 11 اگست 2004 میں فیصلہ کیا گیا کہ تعمیر سرحد پروگرام کے تحت ہر ممبر صوبائی اسمبلی کے جملہ فنڈ سے دو فیصد کٹوتی ختم کی جائے اور فی الوقت دو فیصد کٹوتی سے جو رقم محکمہ بلدیات و دیہی ترقی کے پاس ہے، اس میں ڈائریکٹر جنرل، ترقیات و نگرانی، محکمہ بلدیات و دیہی ترقی کے دفتر کے جملہ اخراجات کو پورا کیا جائے اور باقیماندہ رقم کو قواعد و ضوابط کے مطابق وزیر اعلیٰ کی منظوری کے بعد

استعمال میں لایا جائے۔ کابینہ کے مذکورہ بالا فیصلے کی روشنی میں محکمہ بلدیات ودیہی ترقی نے مزید کٹوتی روک دی اور ڈائریکٹر جنرل، ترقیات ونگرانی کی دفتری ضروریات کیلئے تین لاکھ، باون ہزار روپے کی لاگت سے ایک فوٹوسٹیٹ مشین اور ایک عدد فیکس مشین خرید لی۔ باقیماندہ رقم حکومت کے اکاونٹ میں منتقل ہوچکی ہے اور محکمہ ہذا کے پاس نہیں ہے۔

(3) سوال کا یہ حصہ محکمہ خزانہ سے متعلق ہے۔

<u>جناب اسراراللہ خان گنڈاپور:</u> سر! چونکہ ہمارے محترم بشیر بلور صاحب نہیں ہیں تو میں مطمئن ہوں جی اور بس ٹھیک ہے۔ شکریہ۔

<u>Mr. Deputy Speaker:</u> Next Question No. 32, Pervez Ahmad Khan, Honourable MPA.

* 32_ <u>جناب پرویز احمد خان:</u> کیا وزیر بلدیات ودیہی ترقی از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ ڈسٹرکٹ کونسل نوشہرہ نے مالی سال 06-2005 میں مصری بانڈہ بائی پاس روڈ کیلئے مبلغ ستائیس لاکھ روپے کی منظوری دی تھی؛

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ اس بائی پاس روڈ پر مٹی اور روڑی بچھانے کا کام مکمل کردیا گیا تھا لیکن تارکول نہیں ڈالا گیا؛

(ج) آیا یہ بھی درست ہے کہ منظور شدہ مذکورہ رقم تاحال خرچ نہیں کی گئی اور موجودہ ضلعی ناظم نے مذکورہ کام بند کرایا ہے؛

(د) اگر (الف) تا (ج) کے جوابات اثبات میں ہوں تو آیا حکومت مذکورہ کام مکمل کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

<u>وزیر بلدیات:</u> (جواب وزیر قانون و پارلیمانی امور نے پڑھا): (الف) مصری بانڈہ طورو میاں عیسیٰ بائی پاس سڑک کا منصوبہ مالی سال 05-2004 میں ڈسٹرکٹ میجر سکیم پراجیکٹ کے تحت شروع کیا گیا۔ اس منصوبہ کی ایڈمنسٹریٹیو اپروول 13 ستمبر 2004 کو 2.650 ملین روپے منظور ہوئی اور شفاف ٹینڈرنگ کے عمل کے بعد مورخہ 10 دسمبر 2004 کو ٹھیکیدار کو ورک آڈر دیا گیا۔

(ب) اس منصوبہ کے دو حصوں میں منظوری ہوئی، جس کی تفصیل مندرجہ ذیل ہے۔

(1) تعمیر پختہ سڑک مصری بانڈہ بائی پاس روڈ (لمبائی 1170 میٹر) (لاگت 2.200 ملین)۔

(2) تعمیر منسلک پختہ سڑک محلہ یارو خیل (لمبائی 250 میٹر) (لاگت 0.450 ملین)۔
ٹھیکیدار نے مندرجہ بالا دونوں کام بیک وقت شروع کئے اور کام نمبر 2 کو بطریق احسن مکمل کر دیا جبکہ کام نمبر 1 جو ایک New alignment hilly روڈ تھی، پر صرف Cutting and filling کرنے کے بعد روڑی، Base course ڈالی۔ ان دونوں کاموں پر تقریباً 0.744 ملین روپے خرچ کئے گئے۔ اس دوران ڈسٹرکٹ گورنمنٹ نوشہرہ نے DAO آفس نوشہرہ کی ہدایت پر مالی بحران کی وجہ سے ضلعے کے تمام ترقیاتی کام عارضی طور پر بند کرنے کی ہدایت کی۔ ضلع کونسل نوشہرہ نے 06-2005 کی مجوزہ ترقیاتی بجٹ میں مذکورہ سکیم کو جاری رکھنے کی منظوری نہ دی۔

(ج) یہ درست ہے کہ اس منصوبہ کیلئے منظور شدہ رقم مبلغ 2.650 ملین روپے میں صرف 0.744 ملین خرچ کئے گئے ہیں۔ چونکہ ضلع کونسل نوشہرہ نے مذکورہ سکیم کو 06-2005 کے بجٹ میں منظور نہیں کیا۔ اسی لئے باقیماندہ 1.906 ملین روپے کی رقم کی دستیابی بھی نہیں کی گئی۔

(د) جیسا کہ اوپر بیان کیا گیا ہے کہ مجوزہ سکیم بوجہ مالی بحران مکمل نہ کی جا سکی۔ جہاں تک حکومت کا تعلق ہے تو وہ سکیم مذکورہ مکمل کرنے کا ارادہ رکھتی ہے جس کیلئے ضلعی حکومت کے ساتھ مشاورت کے بعد اقدام اٹھایا جائے گا۔

<u>جناب پرویز احمد خان</u>: جناب والا! دا کوم جواب چه ما ته ملاؤ شوے دے، د دے نه بالکل زهٔ مطمئن نه یمه. تاسو په غور سره دا اوګورئ، متعلقه وزیر موصوف صاحب د اوګوری دا جی 05-2004 کښې یو میجر سکیم زمونږه هلته شروع وو په نوښار ډسټرکټ کښې چه هغه وخت کښې زهٔ د ضلعے نائب ناظم ووم. باقاعده د دے د هر یو شی Approval اوشو، جواب ورکوی چه "شفاف ٹینڈر عمل کے بعد"۔ جناب والا، ورک آرډر ملاؤ شو، کار په هغے باندے اوشو. دوئ وائی چه 0.744 ملین په دے باندے خرچ شوی دی، زهٔ د خپل وزیر موصوف صاحب نه سوال کومه، دا ورک آرډر د اوکتلے شی چه د دے دا نورے پیسے چرته لاړے چه دوئ وائی چه دا مالی بحران راغلو؟ آیا د دے منصوبے مکمل منظوری شوے وه؟ او اکثر داسے کیږی چه یو منظوری اوشی نو هغه که په یو کال کښې او نه شی نو په بل کال کښې هغه On going

scheme کښې جناب والا، راشي۔ زياتے دا اوشو چه دا يو ډيره اهمه مسئله وه، يو اهم روډ وو، په دے باندے حکومت تاوان، زمونږه د عوامو پيسه هسے ضائع کړے ده، زۀ د دے تپوس کول غواړمه ستاسو په وساطت د دے هاؤس نه چه مهرباني د اوکړے شي، د دے خلاف د د انکوائرئ يو کميټي جوړه شي چه دوئ ولے دا 0.744 ملين روپئ په 2004-05 کښې په دے باندے هسے ضائع کړے دي او د قوم او د ملک او د صوبے تاوان ئے کړے دے؟ زۀ دا پرزور مطالبه کوم د دے خپل هاؤس نه ستاسو په وساطت باندے چه دا مهرباني د اوکړے شي، د دے يو کميټي د مقرر شي۔ زما دا On going scheme وو، هغه دوئ درے کاله ضائع کړو او پته نه لګي چه هغه پيسے، دوئ خپل بجټونه پاس کړي دي نو آيا زۀ دا تپوس کول غواړمه چه د ګورنمنټ په حساب کتاب کښې يو څيز منظور شي، راشي، هغه په نيمه کښې پاتے شي يا هغه چه څه پړے اولګي، هغه به دغه شان ضائع ځي؟ روړه پړے وه، خاوره پړے وه، هغه نن لاړه اوبو او بارانونو بيا تباه کړے ده، اوړے ئے ده۔ زۀ صرف د دے قوم د پيسے حساب غواړمه د خپل د هغے ضلعي حکومت نه او چه کومے ادارے دا شے کړے دے، د هغوی نه حساب غواړمه۔ لهذا مهرباني د اوکړے شي، زۀ بالکل مطمئن نه يمه، د دوئ خلاف د کارروائي اوکړے شي۔ کميټي د ورته سپيشل جوړه شي چه د دے عوامو دا کار مکمل شي۔ ډيره مهرباني۔

<u>جناب ډپټي سپيکر:</u> ډيره شکريه۔

<u>جناب پرويز احمد خان:</u> جناب والا! تاسو د کميټئ اعلان اوکړی بيا۔

<u>جناب ډپټي سپيکر:</u> ارشد عبدالله صاحب۔

<u>بيرسټر ارشد عبدالله (وزير قانون و پارليماني امور):</u> مهرباني جي۔ دا کار چونکه 2004 سره Related دے نو دا به اوواېو چه يره Responsibility خو په تير شوی ګورنمنټ باندے راځي، خو بهرحال دا کار Basically د ډسټرکټ ګورنمنټ کار دے او ډسټرکټ ګورنمنټ کښې Initially دے ته بجټ Allocate شو، کار پړے اوشو، د هغے نه پس Next financial year چه کوم راتلو 2005-06، په هغے کښې د دے د

پاره ډسټرکټ ګورنمنټ بجټ Allocate نه کړو نو د هغے د وجے نه، لکه ډسټرکټ ګورنمنټ کښ یو کار دے او ډسټرکټ ګورنمنټ خپله فیصله اوکړله چه یره مونږ ته Financial crises دی، نو هغوی دا Continue او نه ساتلو او بله خبره دا ده جی چه څومره چه زمونږه ټریژری بنچز کښ زمونږ دا ایم پی ایز ملګری دی، دے رونړو ته او ټولو ملګرو ته دا درخواست کومه چه پارلیمانی نظام کښ چه کله د ټریژری بنچ د ممبر څه مسئله وی، هغه له پکار ده چه د Concerned department سره رابطه کوی او Concerned Minister سره رابطه کوی چه کوم ځائے کښ مشکلات وی، چه کوم ځائے کښ اپوزیشن ممبرز وی، هغوی ته تکلیف وی، هغوی کوشش کوی چه منسټر سره رابطه اوکړی او مسئله هم داشان حل شی، نو زهٔ خو دے ته حیران یمه چه دلته کښ د اپوزیشن سائډ نه داسے قسم سوالونه نه راځی بلکه ټول ټریژری ممبرز رالیږی، نو دوئ ته دا درخواست دے چه یره خپل Concerned Minister صاحب سره د کښینی۔ دا خو خپله پارټی هم ده او خپل ګورنمنټ هم دے او دا وړے وړے مسئلے دی، دا ډسټرکټ ګورنمنټ سره Related ده، د دے مونږه سره تعلق نشته۔

<u>جناب پرویز احمد خان:</u> زهٔ د خپل ګورنمنټ نه مطمئن یمه، زهٔ دا صرف سوال کومه چه زهٔ به آخر کوم فلور ته بیا ځمه؟ زهٔ خو د هغے ادارے نه راغلے یمه چه هغه ټائم ما تاسو ته اووئیل چه زهٔ هغه وخت کښ نائب ناظم ووم۔ زهٔ صرف د هغے زیاتی ټپوس د دے ستاسو په وساطت د دے خپل هاؤس په فلور غواړمه چه مونږ سره دا زیاتے ولے شوے دے، دا نقصان د قوم ولے شوے دے؟ زهٔ صرف د دغه څیز دا ټپوس کول غواړمه چه د دے ازاله اوشی، مهربانی د اوکړے شی۔ دا خو مطلب دا دے که ضلعی حکومت دے خو نن د دے صوبے د لاندے راځی، دا خو نه ده چه هغوی به په مونږه باندے هلته کښ ظلم کوی او مونږ به ورته دغه شان تماشائی جوړیږو او ګورو به ئے۔ زهٔ دا درخواست کومه چه تاسو مهربانی اوکړئ چه د دے د پاره یو سپیشل کمیټی جوړه کړئ چه دا واقعات هغه اوګوری په ښه طریقه باندے۔ زهٔ مطمئن نه یمه جی، کمیټی جوړه کړئ۔

**جناب ڈپٹی سپیکر:** ارشد عبداللہ صاحب! د دے تاسو Specific جواب ورکړئ او د دے انکوائرئ د پاره د کمیټی چه هغوی کومه خبره اوکړه نو مطلب دا دے تاسو د دے تحقیقات اوکړئ۔

**وزیر قانون و پارلیمانی:** مونږ به Departmentally inquiry اوکړو جی د دے۔ ټھیک شوه جی چه څه Appropriate وی، We will take that out.

**جناب پرویز احمد خان:** جناب والا! زهٔ یو درخواست کومه، د ډیپارټمنټل انکوائری نه زهٔ مطمئن نه یمه۔ د دے هاؤس د ممبرانو یو کمیټی د جوړه شی۔ په ډیپارټمنټ مے اعتماد نشته دے، د دے هاؤس په ممبرانو مے اعتماد دے چه دوئ به ما سره۔۔۔۔

**وزیر قانون و پارلیمانی امور:** جناب والا! دا مسئله خو ډسټرکټ گورنمنټ سره Related ده او دے سره خو زمونږه کار نشته دے۔ د ډسټرکټ گورنمنټ خپل Priorities دی، د پراونشل گورنمنټ خپل Priorities دی۔ زمونږ سائډ نه دا ده چ۔ We will extend our support انشاء اللہ۔

**جناب ڈپٹی سپیکر:** پرویز خان! سټینډنگ کمیټئ هم زمونږه په وجود کښ راتلو والا دی او مطلب دا دے چه په دے باندے به غور اوکړو۔

**جناب پرویز احمد خان:** نو جناب والا، بیا دا سوال Pending اوساتئ۔ جناب والا، دا سوال به زهٔ ختمومه نه، دا به تر هغے پورے زهٔ دغه کومه چه تاسو تر څو پورے زما د پاره، د دغے د پاره، د دغه نقصان د پاره یو کمیټی نه وی جوړه کړی۔ ډیره مهربانی۔

**جناب ڈپٹی سپیکر:** زهٔ دا هاؤس ته درخواست کومه او تپوس کومه چه دا کوئسچن چه کوم پرویز خان Raise کړو، ټھیک ده Substantial question دے، آیا دا مونږه سټینډنگ کمیټی ته حواله کړو؟۔۔۔۔۔

**جناب پرویز احمد خان:** د هاؤس کمیټئ ته ئے۔۔۔۔

(تحریک منظور کی گئی)

جناب ڈپٹی سپیکر: تھیک شوہ۔

جناب پرویز احمد خان: ڈیرہ مهربانی، شکریه جی۔

Mr. Deputy Speaker: Question of Pervaiz Khan is referred to Standing Committee with the consent of the Honourable House. Question No. 88, Attiqur Rehman, Honourable MPA. Not present. Question No. 22, Dr. Zakirullah Khan, Honourable MPA.

*22_ ڈاکٹر ذاکر اللہ خان: کیاوزیر جنگلات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ محکمہ جنگلات میں فارسٹ گارڈ / فارسٹر کی بھرتی کیلئے طریقہ کار کے مطابق اخبارات میں آسامیوں کی تعداد اور ٹیسٹ کیلئے اشتہار دیا جاتا ہے اور کمیٹی کے ذریعے چناؤ کے بعد بھرتی کے احکامات جاری کئے جاتے ہیں;

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ گزشتہ پانچ سالوں کے دوران ورکنگ پلان سرکل اور سدرن سرکل میں فارسٹ گارڈ کی بھرتیاں ہوئی ہیں;

(ج) اگر (الف) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ سرکلوں کے کون کون سے ڈویژنوں / یونٹوں میں کل کتنے فارسٹ گارڈز بھرتی ہوئے ہیں، ان کے نام، ولدیت، سکونت، میرٹ پوزیشن، اخباری اشتہار، امیدواروں کی فہرست، انٹرویو کے رزلٹ اور میرٹ لسٹ فراہم کی جائے؟

جناب واجد علی خان (وزیر جنگلات): (الف) جی ہاں، یہ درست ہے۔

(ب) یہ درست ہے کہ سدرن اور ورکنگ پلان سرکلز کے مختلف ڈویژنوں میں فارسٹ گارڈ / فارسٹرز کی بھرتیاں ہوئی ہیں۔

(ج) سدرن اور ورکنگ پلان سرکلز کے مختلف ڈویژنوں میں گزشتہ پانچ سالوں کے دوران جو فارسٹ گارڈز بھرتی کئے گئے ہیں، ان کے نام، ولدیت اور سکونت کی تفصیل معہ اخباری اشتہار اور میرٹ لسٹ کی فوٹو کاپیاں اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ کی جاسکتی ہیں)

ڈاکٹر ذاکر اللہ خان: جناب سپیکر صاحب، شکریه۔ ما تپوس کړے دے چه "آیا یہ درست ہے کہ محکمہ جنگلات میں فارسٹ گارڈ / فارسٹر کی بھرتی کیلئے طریقہ کار کے مطابق اخبارات میں آسامیوں کی

تعداد اور ٹیسٹ کیلئے اشتہار دیا جاتا ہے اور کمیٹی کے ذریعے چناؤ کے بعد بھرتی کے احکامات جاری کئے جاتے ہیں"
نو دوئ خو صفا ستهره خبره کوی چه ہاں، ٹھیک ده۔ زۂ دلته کښ د منسٹر صاحب نه دا تپوس کول غواړمه چه دا څه خو دوئ ورسره د اخباراتو اشتهارات لګولی دی، هغه هم دا شان اخبارات دی چه یا 'انکشاف' دے یا څه بل څه شے دے چه د هغے هډو مونږه نومونه اوریدلی نه دی خو دا یو پانړه جی که تاسو واړوی، دا کوم تفصیل ئے چه ورکړے دے نو مردان فارسټ ډویژن او بیا په دے آخر کښ فارسٹری پلاننګ اینډ مانیټرنګ سرکل آفس پشاور ورکنګ پلان یونټ او 5 مانسهره او 6 سوات، په دے کښ چه دا کوم کسان بهرتی شوی دی، د دوئ اخباری اشتهارات یا د کمیټئ، هغه کومه کمیټی چه ورته جوړه شوے ده، هغه یا کوم میرټ لسټ جوړ شوے دے، هغه که منسټر صاحب راته لږ مخے ته راړواندے کړی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> جناب واجد علی صاحب۔

<u>وزیر جنگلات:</u> جناب سپیکر صاحب، په دے کښ ټوټل او ډیټیل شته دے او زمونږه فاضل ممبر صاحب په دے خبره پوهه دے چه دا تیر ګورنمنټ، په دے کښ زمونږه Lapses هم شته او په دے کښ زمونږه د صوبے کابینے دا فیصله کړے هم وه چه کوم خلق د رولز ریګولیشنز نه بالا بهرتی شوی دی نو د هغوی به انکوائری کوؤ او که داسے څه خبره، او شته پکښ هم، ځکه چه دا اعجاز احمد فارسټ ګارډ چه دے، ګوچه Earthquake affectee بنیاد باندے ئے اغستے دے، د دے د پاره څه اشتهار یا څه شے نه دے شوے۔ داسے بل اقبال رحیم ولد فضل رحیم فارسټ ګارډ چه دے، زۂ د دۂ د خبرے سره تر دے حده پورے متفق یم چه دے کښ ځنے ځنے Lapses شته خو دا د هغے تیر ګورنمنټ کارنامے دی، د هغے جواب مونږه دلته کښ ورکوؤ خو زۂ یو خبره کول غواړمه چه کوم ځائے کښ په دے کښ ډیپارټمنټس کښ څومره داسے قسمه کاروائیانے شوے دی نو زۂ ممبر صاحب له تسلی ورکومه چه د دے به ازاله کوؤ او داسے هیڅ خبره به نه کیږی، مونږه بالکل Transparent پالیسی به ساتو انشاء اللہ تعالیٰ او اوس چه په دے حکومت کښ کومه پالیسی ده،

د هغوی بالکل واضحه پالیسی ده چه تاسو به یو کس هم بغیر د اشتهار نه په یو ډیپارټمنټ کښې نه اخلئ او که داسې واقعه وی او څوک ئې په ګوته کړی نو انشاء الله تعالیٰ مونږه به ډیر په سختو ټکو کښې د هغې غندنه به هم کوؤ او اقدامات به هم د هغې خلاف اخلو۔

جناب عبدالاکبر خان: جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: آپ تشریف رکھیں، اس کے بعد پھر آپ کو۔۔۔۔۔۔

ڈاکٹر ذاکر اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! دا خو منسټر صاحب په دې فلور پخپله باندې اومنله چه یره غیر قانونی بهرتئ شوی دی، نو اوس تاسو پخپله فیصله اوکړئ چه یره د دې متعلق تاسو څه ایکشن اخلئ؟ نور خو زما هم دغه خبره وه چه دلته مې راوړله او ستاسو مخې ته راغله۔

وزیر جنگلات: سپیکر صاحب! زهٔ دهٔ سره متفق یمه په دې خبره کښې او دا ځکه چه زمونږه صوبائی کابینې دا فیصله کړې ده چه ټول تیر حکومت کښې چه څومره غلطې بهرتئ شوی دی، مونږه د ټولو ډیپارټمنټس نه هغه راغوښتې دی، دا چه په دې نګران دور کښې یا د الیکشن په دور کښې څومره غلطې بهرتئ شوې دی، د هغې خلاف به مونږه کارروائی هم کوؤ او په هغې باندې به مونږه انشاء الله تعالیٰ ایکشن اخلو۔

جناب ڈپٹی سپیکر: امید دې چه زمونږه ګران ایم پی اے صاحب به مطمئن وی خو دا یو خبره زهٔ کول غواړمه چه هر کله Irregular یا Illegal appointments اوشی او په هغې باندې آرډرز او په هغې باندې Implementation اوشی نو د هغې بیا باقاعده یو طریقه کار دې او هغه طریقه اپناوؤل پکار دی۔ نوټس ورکول پکار دی او د هغې مطابق ایکشن اغستل پکار دی او دویمه خبره دا ده چه دا Appointments چه چا Irregular کړی دی نو په هغې Concerned authorities باندې ایکشن اغستل پکار دی چه Such irregular and illegal appointments او د هغې خلاف هم کارروائی کول پکار دی چه ولې داسې اوشو؟

وزیر جنگلات: د دے د پارہ مونږہ یو کمیټی مقرر کړے هم ده او هغوی په دے کښ انکوائری هم کوی۔ کوم کوم ځائے کښ چه دا Lapses شوی دی، انشاء الله تعالیٰ د هغے به مونږه مکمل تحقیق کوؤ او کوشش به زمونږه دا وی چه دا څومره Irregular شوی دی دا منع هم کړو او د هغے خلاف ایکشن هم واخلو۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ډیره مننه۔

جناب عتیق الرحمان: جناب سپیکر، زهٔ یو عرض کومه۔ زهٔ لږ لیټ شومه او زما یو کوئسچن وو، هغه تیر شوے دے او هغه ډیر ضروری کوئسچن دے نو ما له موقع راکړئ چه زهٔ ئے پیش کړمه۔

جناب ڈپٹی سپیکر: اجازت دے۔

Mr. Ateeq ur Rehman: Thank you.

Mr. Deputy Speaker: Question No. 88. Mr. Attiqur Rehman, Honourable MPA Sahib.

* 88 _ جناب عتیق الرحمان خان: کیاوزیر بلدیات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ ہنگو شہر کیلئے 03-2002 میں این یو ڈی پی (UNDP) سے سیورج اور واٹر سپلائی پروگرام کی منظوری دی گئی تھی;

(ب) آیا یہ درست ہے کہ اس وقت کے ناظم نے مذکورہ کام کیلئے پیپر ورک مکمل کیا تھا اور کام کا ٹھیکہ بنوں سے تعق رکھنے والے ٹھیک ی دار کو دیا تھا جبکہ ڈی سی او کا تعلق بھی بنوں سے تھا;

(ج) آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ ٹھیک ی دار بلیک لسٹ ہو چکا ہے;

(د) آیا یہ درست ہے کہ UNDP خرد برد کا شکار ہو چکا ہے:

(ہ) اگر (الف) تا (د) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ پروگرام کیلئے مختص شدہ فنڈ اور خرچ شدہ فنڈ کی مکمل تفصیل بمعہ نقشہ جات فراہم کی جائے؟

سینئیر وزیر (بلدیات): (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) ہاں، ہنگو شہر کیلئے سال 03-2002 میں این یو ڈی پی کے ذریعے سیورج اور واٹر سپلائی پروگرام کی منظوری دی گئی تھی۔

(ب) ہاں، یہ درست ہے کہ اس وقت کے تحصیل ناظم نے مذکورہ ترقیاتی کاموں کیلئے پیپر ورک یعنی سکیموں کا تعین اور Subsidiary agreement کئے تھے جس کی بنیاد پر دونوں سکیموں یعنی واٹر سپلائی اور سیورج ڈرینج کیلئے ڈیزائن و تخمینہ اخراجات اے۔سی۔ای (ایشیائی ترقیاتی بینک اے۔ڈی۔بی کے پلان کے مطابق اس پراجیکٹ کے کنسلٹنٹ) نے تیار کئے تھے۔ واٹر سپلائی سکیم کا ٹھیکہ محمد اقبال اینڈ کمپنی نے 20 جون 2006 میں اے۔ڈی۔بی کی منظوری سے حاصل کیا تھا مگر سست روی اور Excavation item پر تنازعہ کے باعث مذکورہ ٹھیکہ 19 ستمبر 2006 کو منسوخ کردیا گیا اور بعد ازاں دوبارہ ٹینڈر کیلئے ایڈورٹائزمنٹ کروائی گئی مگر مذکورہ ٹینڈر کیلئے متعین تاریخ یعنی 30 نومبر 2006 کو کسی کمپنی نے دلچسپی ظاہر نہ کی۔ سہ بارہ ایڈورٹائزمنٹ بذریعہ قومی اخبارات کروائی گئی اور پلان کے مطابق 9 جنوری 2007 کو تین کمپنیوں ( ) میسرز سیکنڈری کنسٹرکشن کمپنی، ( ) میسرز عابد اینڈ کمپنی اور ( ) میسرز جی ڈی کنسٹرکشن کمپنی نے حصہ لیا۔ تفصیلی جانچ پڑتال اور گفت و شنید کے بعد میسرز سیکنڈری کنسٹرکشن کمپنی کو کامیاب بولی دھندہ قرار دیتے ہوئے مبلغ 48.988 ملین روپے میں مذکورہ ٹھیکہ اے۔ڈی۔بی کی منظوری سے 21 فروری 2007 کو دیدیا گیا ہے، اس دوران ہنگو میں ڈی سی او فخر عالم ساکن چارسدہ متعین رہے ہیں جبکہ سیورج ڈرینج کا ٹھیکہ مروجہ اصول و ضوابط کے مطابق قاضی خان اینڈ سنز (رجسٹرڈ بنوں) کو مبلغ 44.717 ملین روپے میں 3 جولائی 2007 کو دیا گیا ہے۔

(ج) جیسا کہ اوپر (ب) میں تفصیل دی جاچکی ہے کہ ٹھیکیدار اقبال اینڈ کمپنی کا ٹھیکہ صوبائی حکومت نے 19 ستمبر 2006 کو منسوخ کردیا تھا۔ مذکورہ ٹھیکیدار اس وجہ بلیک لسٹ نہیں ہوا ہے۔

(د) نہیں یہ درست نہیں ہے۔

(ہ) مذکورہ واٹر سپلائی سکیم ہنگو کی تخمینہ لاگت 48.988 ملین اور خرچ شدہ رقم آج تک 11.793 ملین ہے۔ مذکورہ سیورج ڈرینج کی تخمینہ لاگت 44.717 ملین اور خرچ شدہ رقم آج تک 7.216 ملین ہے۔ نقشہ جات لائبریری میں ملاحظہ ہوں۔

<u>جناب عتیق الرحمان:</u> ډیره مهربانی۔ په دے کښې جی زهٔ د جواب نه بالکل مطمئن نه یمه۔ په دے کښې دوئ وئیلی دی چه هغه ټینډر چه کوم شوے وو، هغه دوئ منسوخ کړے

دے نو کله چه یو ټهیکیدار کار نه کوی جناب سپیکر صاحب، بیا هغه بلیک لسټ شی نو بیا پکار ده چه هغه ئے بلیک لسټ کړے وے او دا څه د اړتالیس روپو خبره نه ده، د اړتالیس هزار خبره نه، دا د چار لاکھ، اسی هزار خبره نه ده، کم از کم د دس کروړ روپو خبره ده او دے سره ټول هنګو ټاون ترلے دے، تحصیل ترلے دے۔ دے سره سیوریج او د واټر سپلائی سکیمونو خبره ده نو په دے کښ انتهائی زیات خرد برد شوے دے او اوس هم کار 03-2002 کښ سټارټ شوے وو جی، تر ننه پورے په هغے کښ دوئ لیکی چه 11.793 ملین په هغے کښ لګیدلی دی په واټر سپلائی سکیم کښ او په سیوریج کښ دوئ وائی چه 7.216 ملین روپئ ئے لګولے دی، نو 03-2002 کښ چه کوم سکیم سټارټ دے تر 2008 پورے، د هغے دا پوزیشن دے نو دے کښ ډیپارټمنټ د انکوائری او کړی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ارشد عبداللہ۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: په دے کښ جی د دوئ زیات Concern دے سره وو چه یره ډی سی او صاحب د بنوں دے او ټهیکیدار هم د بنوں دے خو هغه خو مونږه Clarify کړے دے چه داسے نه ده۔ دا ډی سی او صاحب د بل ځائے او ټهیکیدار د بل ځائے دے او دا چونکه بلیک لسټ نه دے، ستاسو Apprehensions دا وو چه دا بلیک لسټ دے خو دا سړے بلیک لسټ نه دے او باقی زما خیال دے ډیر تفصیلی جواب ورکړے شوے دے۔ کوم داسے پوائنټس دی چه د هغے نه تاسو Clear نه یئ یا د هغے وضاحت غواړئ۔۔۔۔۔

جناب عتیق الرحمان: دوئ پخپله باندے وئیلی دی چه دا کار سست وو نو د دے وجے نه مونږه د دے ټینډر منسوخ کړلو۔ په دے جواب کښ لیکی چه کله منسوخ کوی، ولے منسوخ کوی، د ټهیکیدار په وجه کنه۔ د کار غلطی خو نه وی چه پخپله باندے نه کیږی خو ټهیکیدار ئے نه کوی نو چه ټهیکیدار ئے نه کوی نو پکار ده چه ټهیکیدار بلیک لسټ شوے وے او دے کښ انکوائری شوے وے۔ انکوائری نه ده شوے او خپل دغه باندے مخکښ هم منظور نظر خلقو ته دا ټهیکه ورکړے شوه، بنوں والا ته،

بنوں سره ئے تعلق ساتلو او تاسو ته هم پته ده چه هغه ټائم کښ د چا دور حکومت وو، نن هم هغه خلق بیا پرے قابض دی او کار نه کوی۔ زما عرض د هنګو پسمانده خلقو سره دے چه هغوی ته اوبه اورسی۔ د هغوی چه کومه زندګی ده، هغه د بهتره شی نو په دے کښ که انکوائری Conduct شی یا د ما ته لاء منسټر صاحب په فلور آف دی هاؤس دا Commitment اوکړی، وعده راسره اوکړی چه په دے کښ به مونږه انکوائری ټیم جوړوؤ، زهٔ به پکښ هم Personally یمه، زهٔ به ورته هغه ځایونه Identify کړمه، اوښایم به ورته او هغه خرد برد به ورته هم اوښایمه، پائپ لائنز پکښ، غیر معیاری ییټیریل چه کوم Use شوے دی، هغه بالکل ناقص دی۔ د دے د پاره که په فلور آف دی هاؤس دا ما سره Commitment کوی چه یره مونږ به پکښ انکوائری conduct کوؤ نو زهٔ به دا زور نه اچومه چه دا د سټینډنګ کمیټۍ ته حواله شی یا د کمیټی جوړه شی۔ دا د ما سره Commitment اوکړی۔ مهربانی۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور:</u> په دے کښ دا ګزارش دے جی یو خو جی Already یو فیصله شوے ده او په 2006 کښ شوے ده او پریویس ګورنمنټ کړے ده۔ مونږه به خپل Limitations ګورو که دا Possible وی نو ډیپارټمنټ سره به مونږه کښینو نو بالکل انکوائری به پکښ اوکړو او دوئ به، He will be kept inform د هغے چه څه Outcome وی نو We will keep him inform خو دا چونکه یوه فیصله شوے ده په 2006 کښ، د تیر شوی ګورنمنټ سره د دے تعلق دے کنه جی خو بیا به پرے هم مونږه کښینو، صلاح به اوکړو چه یره څه Possible وی، هغه به اوکړو انشاء الله په دے کښ۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> منسټر صاحب۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور:</u> جی، جی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> هر کله چه یو ټینډر اوشی او هغه بیا آنر نه شی او هغه منسوخ شی نو د هغے څه رولز دی او څه دغه دی، بیا څه کول پکار دی د هغے ټهیکیدار خلاف؟ تاسو سره څه داسے دغه شته؟

وزیر قانون وپارلیمانی امور: نو د دے آپشنز خو ډیر دی جی خو چونکه دیکښ دا واضحه شوی دی، Excavation item باندے تنازعه راغله نو اوس د دے ډیټیل به معلومول غواړی چه آیا د 2003 نه واخلئ تر 2006 د Rates enhancement وجه وه یا څه پرابلم اوشو؟ نو داسے به اوکړو چه په دیکښ به Departmentally inquiry اوکړو یو، We will keep him inform چه څه د هغے Outcome وی او انشاء الله ډیپارټمنټ والا به ورسره زۀ ملاؤ کړمه د سیشن نه پس او چه څه په دیکښ Bottom links وی د هغے به د Remove کولو کوشش کوؤ جی۔ انشاء الله دوئ به Satisfy کړو جی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: منسټر صاحب به په دے معامله کښ انکوائری اوکړئ او چه څه د هغے رزلټ وی نو انشاء الله۔۔۔۔۔

جناب عتیق الرحمان: زۀ جی دے سره Concerned یم او زما حلقه ده، مین هنګو سره تعلق ساتمه، زما نه زیات د دے معاملے نه هیڅ څوک هم نه دی خبر۔ په تیر شوی ګورنمنټ کښ هم زۀ وومه، په ګورنمنټ کښ نه وومه، په اپوزیشن کښ وومه خو په هغے اسمبلی کښ ناست وومه، منسټر صاحب وائی چه دیکښ صرف دا دلته کښ ئے لیکلی دی مگر *سست روی اور اس پر تنازع کے سبب یہ ہوا*، د Delaying tactics په وجه باندے هم وه او په دیکښ منسټر صاحب کیدے شی، بلدیاتو سره چونکه د دے کوئسچن تعلق دے یا ئے ورته سټډی نه وی کړی یا Prepare شوی نه وی، کله چه یو کار سر ته او نه رسی، ډیپارټمنټ هغه سړے بلیک لسټ کوی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: عتیق الرحمان صاحب۔

جناب عتیق الرحمان: سر جی۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تاسو ته خو هغوی جواب درکړو او مطلب دا چه په فلور باندے ئے اووئیل چه په دے کښ باقاعده ډیپارټمنټل انکوائری به مونږه اوکړو او بیا به په هغے باندے ایکشن واخلو۔

جناب عتیق الرحمان: سپیکر صاحب! زما عرض دا نه دے، زما عرض دا دے چه دا د لسو کروړو خبره ده، د لسو روپو خبره نه ده جی او دوئ وائی چه یره تیر شوی گورنمنټ کړی دی، نو تیر شوی گورنمنټ که هر څه کړی دی، یو غلط شے ئے په مونږه راچولے دے نو زمونږه هیڅ حق نشته دے چه د هغوی د صفائی بندوبست اوکړو۔ په فلور آف دی هاؤس د ما سره Commitment اوکړی چه په دیکښ مونږه انکوائری conduct کوؤ، خلاصه ده۔

جناب ڈپٹی سپیکر: هغه خو اووئیل کنه۔ ما وربانده کوئسچن اوکړو، هغوی اووئیل کنه چه انکوائری به کوؤ۔ که هغه د Previous government وی، که د Present government وی، انکوائری به کوی۔ پیسے خو د قوم دی کنه، که هغه ایک لاکھ دی، که دس لاکھ دی، که دس کروړ دی، انکوائری به کوی پکښ، مطلب دا دے۔

جناب عتیق الرحمان: بس بالکل ما د پکښ شامل کړی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ٹھیک شوه۔

جناب عتیق الرحمان: مهربانی۔

Mr. Deputy Speaker: Question No. 25, Dr. Zakirullah, honourable MPA..

* 25 _ ڈاکٹر ذاکراللہ خان: کیاوزیر جنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ گوہر آباد حویلیاں فارسٹ ڈپو نمبر 569 گلیز فارسٹ ڈویژن کی حدود میں واقع ہے اور ڈپو کے متعلق جملہ امور کی ذمہ داری متعلقہ ڈپو انچارج ایس ڈی ایف او اور ڈی پی او گلیز کی ہے۔

(ب) آیا یہ درست ہے کہ اپر کوہستان ڈویژن سے گوہر آباد ڈپو تک لکڑی کی ڈھلائی کیلئے ٹرانسپورٹ پاس (TP) نمبر 34 مورخہ 16-11-2005 کو 2422 سلیپر 19602 مکسر فٹ کیلئے جاری ہوا، جس کے مطابق 24-11-2005 تک تعداد سلیپر 1855 والیوم 14289.92 مکسر فٹ ڈپو تک پہنچ گئی؛

(ج) آیا یہ درست ہے کہ ڈی ایف او کوہستان، ڈی ایف او گلیز اور ڈی ایف او ہری پور فارسٹ ڈویژن پر مشتمل کمیٹی نے لکڑی ہذا کی تقسیم کی اور 1855 سلیپر والیوم 14289.92 مکسر فٹ لکڑی سے سوسائٹی کا اسی فیصد حصہ یعنی 1405 سلیپر والیوم 10367 مکسر فٹ ان کے حوالے کیا:

(د) آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ لکڑی 1405 سلیپر والیوم 10267 مکسر فٹ لکڑی فروخت ہو کر متعلقہ ڈی ایف او یعنی ڈی ایف او گلیز کے دستخط سے جاری شدہ چالانوں پر ڈپو سے باہر جاتی رہی؟

(ہ) اگر (الف) تا (د) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ فروخت شدہ لکڑی 1405 سلیپر والیوم 10367 مکسر فٹ لکڑی میں سے 28.4.2006 تک کتنے چالانوں سے کتنی مکسر فٹ کونسی تاریخ اور کس کے دستخط سے ڈپو مذکورہ سے باہر جاچکی ہے، تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب واجد علی خان (وزیر جنگلات): (الف) یہ درست ہے۔

(ب) یہ درست ہے۔

(ج) یہ درست ہے۔

(د) یہ درست ہے۔

(ہ) 28.4.2006 تک جن چالانوں کے ذریعے جو لکڑی ڈپو مذکورہ گوہر آباد ڈپو سے باہر جاتی رہی، کی تفصیل لائبریری میں ملاحظہ ہو۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: جناب سپیکر صاحب! د (الف) نه واخلئ تر (د) جز پورے ډیپارټمنټ منلے ده، چه زهٔ ورته څه وایمه نو هغوی وائی چه دا بالکل ټهیک دی. په دے (د) جز کښې جی ما د دوئ نه تپوس کړے دے چه دا 1405 سلیپر چه د هغے والیوم 10367 فټ جوړیږی چه دا د ډی ایف او په چالانونو باندے د ډپو نه بهر وتی دی او خرڅ شوی دی، هغه د خلقو حصه وه، نو دوئ راسره دا منلے ده چه هاں دا ټهیک ده. دوئ دلته کښې په دے دوئمه پاڼړه باندے چه کوم دغه ورکړی دی، نو زهٔ د 1405 سلیپرو خبره کومه جی چه دوئ د ډپو نه ویستلے دی لکه ټوټل تاسو اوګورئ په دے آخری پیج باندے 1568 سلیپرے دوئ ویستلے دی چه دے ډپو ته راغلی 1405 دی او دا پکښې پراته وو او دا بهر وتی دی، نو زهٔ خو حیران دا یمه چه دا 163 سلیپر د کوم

ځائے نه راغلل؟ دا خو شنه لرګی وو، هلته نوے پکښ هم نه دی جوړ شوی چه زیات شوی دی جی، دا 163 د دے ډپو نه زیات وتی دی او راغلی ورته 1405 دی، نو ما ته منسټر صاحب د د دے څه تفصیل راکړی چه بهر ته زیات اوځی او راځی ډپو ته کم، پراته پکښ کم دی او اوځی ترینه زیات۔

جناب ڈپٹی سپیکر: واجد علی خان صاحب۔

وزیر جنګلات: محترم سپیکر صاحب! دا فاضل ممبر صاحب چه کومے خبرے نشاندهی کړے ده، نو یقیناً چه داسے شوی دی خو په دے کښ یو انکوائری د نیب روانه ده چه هغوی هم په دے باندے ایکشن اغستے دے او نیب په دے باندے انکوائری کوی او یو زمونږه ډیپارټمنټل انکوائری هم چیف سیکرټری ته لیږلے ده چه د دے خلاف کومه انکائری ده، هغه مونږه Proceed کړو او کوم خلق چه د دے ذمه وار دی چه د هغوی خلاف مونږه ایکشن واخلو۔ نو دوه انکوائرئ Already په دے کښ روانے دی، یو د نیب او یو مونږه خپله Departmentally چیف سیکرټری ته لیږلے ده، نو چه د هغوی نه څه جواب راشی نو انشاءالله تعالیٰ هغه به مونږه دے هاؤس ته، او که وایئ نو ممبر صاحب ته به ئے پیش کړو چه څه د هغے جواب وی، نو دوه انکوائرئ Already په دے کښ روانے دی۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: منسټر صاحب! چه دومره غټ کار شوے دے کنه او دوئ منلے ده چه نیب ته هم تلے ده او ډیپارټمنټل انکوائری پکښ هم روانه ده، نو زهٔ بیا دا وایمه چه کوم ډی ایف او دا کار کړے دے، د هغه متعلق دوئ څه ایکشن اغستے دے، Suspend شوے دے، د هغه متعلق څه کار شوے دے که نه دے شوے؟ نو که دوه انکوائرئ روانے وی نو یو د پکښ د اسمبلئ دا کمیټی هم روانه وی ځکه چه هغه بیا هم ډیپارټمنټل انکوائری ده، ډیپارټمنټ دا کار کړے دے، د ډیپارټمنټ په انکوائرئ باندے به زما څه اعتبار راشی چه هغوی پخپله باندے 163 سلیپرے په یو ټی پی کښ بهر اوباسی؟ داسے بل یو ټی پی ده، ټی پی نمبر 12، که د هغے حال مو اولیدو نو هغه هم تباهئ طرف ته دا فارسټ ډیپارټمنټ ئے بوتلے دے۔ زهٔ دا وایم چه

یره دا کوم خلق چه دے کښ ملوث دی، د هغوی خلاف ایکشن اغستل پکار دی او د اسمبلئ د فارسټ کمیټی د دے د پاره ده چه په هغے کښ دا ټول هر څه مخے ته راشی۔

<u>وزیر جنگلات</u>: جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔۔

<u>ڈاکٹر ذاکر اللہ خان</u>: زما ریکویسټ دا دے چه دا سوال کم از کم کمیټئ ته ریفر کړئ جی۔

<u>وزیر جنگلات</u>: زهٔ به دا عرض اوکړم چه فاضل ممبر صاحب که یو د دهٔ په دے باندے تسلی اوشی، نیب Already په دے کښ انکوائری کوی او په دغه ډپو کښ چه Lapses شوے دی نو هغوی تقریباً هغه خپله انکوائری هم شروع کړے ده او مونږ چه کوؤ، تر څو پورے د انکوائرئ رپورټ راغلے نه وی، تر هغے پورے به د چا خلاف ایکشن اغستے نه شی نو یقیناً چه د انکوائرئ کوم رپورټ راشی او په هغے کښ کوم خلق ملوث وی نو د هغوی خلاف به مونږه سخت نه سخت ایکشن اخلو انشاء اللّٰه تعالیٰ۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: واجد علی خان صاحب! د انکوائرئ څه پوزیشن دے؟ څه Progress دے، څه دی؟ مطلب دا دے د هغے باره کښ څه پوزیشن دے؟

<u>وزیر جنگلات</u>: زمونږه خو جی چیف سیکرټری صاحب ته تلے ده۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: جی؟

<u>وزیر جنگلات</u>: مونږه خو خپله چیف سیکرټری صاحب ته لیږلے ده۔۔۔۔۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ښه۔

<u>وزیر جنگلات</u>: او بله د نیب انکوائری چه ده، د هغے د هغوی نه تپوس کول غواړی چه هغه په کوم سټیج کښ روانه ده؟ او جی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ښه۔

<u>ڈاکٹر ذاکر اللہ خان</u>: جناب سپیکر صاحب! ډیپارټمنټل انکوائری خو، دا خو اوس واضحه خبره ده چه د دوئ د رپورټ، دا د هغه په دستخطونو باندے دا 163

سلیپرے په یو ټی پی کښې بهر اوتے دی د ډپو نه۔ دغه شان لکه بل یو ډی ایف او به د هغه انکوائری افسر مقرر شی، نو د هغه نه خو زما د انصاف توقع نشته چه هغه به دے قوم له انصاف ورکړی۔ پکار دا ده چه کوم خلق په دے کښې ملوث دی، چه هغوی له اسمبلی سزا ورکړی، دا کمیټی ورله سزا تجویز کړی او بیا د هغے مطابق کار اوشی۔ دا سوال کم از کم تاسو کمیټئ ته اولیږئ او دا زما ذاتی خبره نه ده، نه زما لرګی شته جی او نه د لرګو کاروبار کومه خو لکه دغه خبره ده چه ولے دے قوم سره دومره زیاتے کیږی او دومره ملنډے ور پورے کیږی؟

جناب ډپټی سپیکر: واجد علی خان صاحب! دا انکوائری چه کومه ده، مطلب دے چه څوک د هغے چئیرمین دے او د هغے څه طریقه کار دے؟ او چیف سیکرټری صاحب ته څه د پاره تلے ده؟

وزیر جنګلات: ډیپارټمنټل انکوائری مسټر سپیکر صاحب، چه وی نو هغه د ډیپارټمنټ کسان چه وی، دا ډی ایف اوز، کنزرویټرز، هغه په هغے کمیټئ کښې وی او د هغے مطابق هغوی خپل Process مخکښې کوی۔ نیب والا چه دی، هغوی به خپله کار مخکښې کوی، نو زما په خیال باندے که مونږ، یقیناً ډیپارټمنټ به داسے نه کوی چه هغه به خا مخا داسے د غلو دفاع کوی، یقیناً چه داسے کوم Black sheep دی په ډیپارټمنټ کښې دننه، د هغوی خلاف به مونږ ایکشن اخلو، هغه به خا مخا، هغوی ته سزا ځکه ورکوؤ که هغه داسے روان وی نو ډیپارټمنټ خو بیا چلیږی نه۔ ډیپارټمنټ کښې هم ډیر Honestخلق شته، داسے هم نه ده چه ټوټل خلق چه دی، هغه Trust worthyنه وی۔

جناب ډپټی سپیکر: ټهیک شوه ذاکرالله صاحب، چونکه۔۔۔۔۔۔

ډاکټر ذاکرالله خان: جناب سپیکر صاحب! زهٔ یو عرض کومه جی۔ زهٔ وایمه جی چه نیب والا په آخر کښې فیصله کوی نو د سړی نه یو دوه پیسے واخلی او هغه معاف کړی ځکه هغوی باندے خپل لکه هغوی ته هغه دغه ملاویږی۔ دغه شان ډیپارټمنټل انکوائری به اوشی خو دا چه په آخر کښې به ئے ریزلټ زیرو راوځی۔ د دے سره زهٔ

وایم چه هغه ټی پی نمبر 12 ده، یو لس آته دغه به زهٔ د دے سره کړم که منسټر صاحب اجازت راکوی، نور به ورسره هم ملګری کړمه او دوئ د پکښ۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ذاکرالله صاحب! چونکه د دے د، منسټرصاحب چه څنګه اووئیل، انکوائری روانه ده او هغه Final stage کښ ده، چیف سیکرټری صاحب سره ده۔ زهٔ، مطلب دا دے دا کرسئ دا ډائریکشن ورکوی چه دا د زر تر زره Finalize کړی او د هغے رپورټ د بیا چه۔۔۔۔۔۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: او دا کوئسچن د هغے پورے تاسو پینډنګ اوساتئ تر څو چه ما ته دغه نه وی راغلے، زهٔ به ئے بیا واپس کړم۔ د هغے پورے پینډنګ اوساتئ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: نو چه رپورټ راشی نو دا خو بیا د هغے نه پس خبره ده۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: دا یو ځائے او بل ځائے ته مه رسوئ، زما به هم دا کوئسچن وی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: د انکوائری مقصد هم دا دے چه په هغے کښ Probe کیږی، هغے کښ هغوی رپورټ ورکوی چه بیا Final شی۔ ما دا ډائریکشن ورکړو چه As early as possible دا Finalize کړئ او هغوی به بیا د هغے یو تجویز ورکوی او هغوی به بیا Responsibility fix کوی چه Who is respossible for such illegality, for such defalcation or mis-appropriation, هغه به کوی او د هغے مطابق به ډیپارټمنټ بیا ایکشن اخلی۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: سپیکر صاحب! ریکویسټ کومه چه زمونږ دا کوئسچن دلته راځی نو دا کم از کم پینځه او شپږ میاشتے اخلی، زهٔ په دے وجه وایمه چه که زهٔ بیا Fresh question راوړمه او بیا پکښ یو لویه مسئله جوړیږی نو دا د هغے پورے پینډنګ اوساتئ، د هغه رپورټ پورے ئے پینډنګ اوساتئ، دومره غټه خبره خو نه ده جی۔ دا خو چرته دغه کیږی نه، واپس نه ایف آئی آر او نه جیل۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: دا به پینډنګ کړو۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: صحیح شوه، مهربانی۔

Mr Deputy Speaker: Question No. 30, Dr. Zakirullah, honourable MPA.

* 38 _ ڈاکٹر ذاکراللہ خان: کیاوزیرماحولیات،جنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ فارسٹ آرڈیننس 2002 کے تحت محکمہ جنگلات میں فارسٹ ڈیویلپمنٹ فنڈ (FDF) کا قیام عمل میں لایا گیا:

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو:

(i) اس وقت مذکورہ فنڈ میں کل کتنی رقم موجود ہے:

(ii) جون 2002 سے تاحال فارسٹ ڈیویلپمنٹ فنڈ (FDF) سے کل کتنی رقم خرچ کی گئی ہے اور کہاں خرچ کی گئی ہے، مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب واجد علی خان (وزیر جنگلات): (الف) یہ درست ہے۔

(ب) (i) اس وقت فارسٹ ڈیویلپمنٹ فنڈ میں کل -/341907529 روپے بہ تفصیل ذیل موجود ہے:

| | | |
|---|---|---|
| 1۔ | محکمہ جنگلات | 254487698/- |
| 2۔ | ایف ڈی سی | 87419831/- |
| | کل رقم | 341907529/- |

(ii) جون 2002 سے تاحال فارسٹ ڈیویلپمنٹ فنڈ سے مبلغ -/41114846 روپے خرچ ہوئے ہیں جس کی تفصیل درج ذیل ہے:

| نمبر شمار | نام سرکل | نام فارسٹ ڈویژن | کل اخراجات |
|---|---|---|---|
| 1 | ہزارہ سرکل | اپر کوہستان | 3080740/- |
| | | لوئر کوہستان | 589372/- |
| | | ہزارہ ٹرائبل | 3451003/- |
| | | کاغان | 9567144/- |
| | | سیرن | 2548078/- |
| | | اگرور تناول | 768000/- |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | گلیٹر | 2545733/- |
| | | ہری پور | 1262355/- |
| 2 | ملاکنڈ سرکل | سوات | 1498772/- |
| | | کالام | 3532049/- |
| | | الپوری | 1054000/- |
| | | بونیر | 1674940/- |
| | | ملاکنڈ | 154000/- |
| | | لوئر دیر | 3810200/- |
| | | اپر دیر | 521350/- |
| | | دیر کوہستان | 1181883/- |
| | | چترال | 974730/- |
| | | میزان | 14401924/- |
| 3 | سدرن سرکل | پشاور | 1309487/- |
| | | مردان | 1287000/- |
| | | کوہاٹ۔ بنوں | ------- |
| | | ڈی آئی خان | 204000/- |
| | | میزان | 4800487/- |
| | | کل میزان | 41114846/- |

ڈاکٹر ذاکر اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! په دیکښ دے فارسټ آرډیننس 2002 لاندے دا ایف ډی ایف لکه فارسټ ډیویلپمنټ فنډ قائم شوے وو نو دیکښ دا پیسے جمع شوے دی، دا څه چونتیس کروړ او څه جوړیږی، اوس ئے نه شم جمع کولے خو تقریباً دا پیسے جوړیږی او ما بیا تپوس کړے دے چه دا په کوم کوم ځائے کښ خرچ شوی دی؟ نو زهٔ د منسټر صاحب نه تپوس کوم چه د دے د خرچ کولو طریقه کار څه دے؟

جناب ڈپٹی سپیکر: واجد علی صاحب!

وزیر جنگلات: جناب سپیکر صاحب! دا سوائے د فارسټ د جنریشن نه او د پلانټیشن نه په بل څه باندے نه خرچ کیږی۔ دا چه کومے خرچ شوے دی، دا هم په دے ری جنریشن او په دے پلانټیشن باندے شوے دی، په دے مختلف سرکلز کښ شوے دی، هغه خرچ شوے دی، د هغے ډیټیل موجود دے او نور بقایا چه څومره رقم پاتے دے، هغه اوس د فارسټ ډیویلپمنټ د پاره به ئے لګوؤ ځکه چه دا دے د دے د پاره چه په دے فارسټ کښ ری جنریشن هم اوشی او د دے پلانټیشن هم اوشی۔ دغه بل مخکښ نه شی لګیدے۔

ډاکټر ذاکر اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! زۀ د منسټرصاحب نه دا تپوس کول غواړمه چه دیکښ دوئ ورکړے دی چه اپر دیر او لوئر دیر، اپر دیر خو خیر دے، لوئر دیر او ملاکنډ ایجنسی او لاندے دا سدرن سرکل چه دے، په دے کښ وائی چه لکه دا مقام مخامخ لیکل ورته شوے دی چه څه څه کروړونه یا لکهونه روپئ خرچ شوے دی، نو دوئ وائی، آرډیننس 2002، د دے دفعه 104ده او ذیلی دفعه4ده، چه په هغے کښ دا وائی چه دا پیسے په هغه ځایونو کښ خرچ کیږی چه د کوم نه دا فنډ Collect کیږی، نو زۀ دا وایمه لکه په لوئر دیر کښ دوئ ولے خرچ کړے دی یا دلته په دے سدرن ډسټرکټ کښ، په دے کښ ولے؟ او په ملاکنډ ایجنسی کښ، په دے کښ خو د سره ځنګل شته نه، نو دوئ په دے کښ ولے خرچ کړے دی جی؟

جناب ڈپٹی سپیکر: واجد علی صاحب۔

وزیر جنگلات: دا جی، دا ټوټل پیسے چه دی، دا فارسټ په ټوله صوبه کښ موجود دے او د دے خپل خپل Species وی۔ په ځنے ځائے کښ چه کوم هائی لینډ دی لکه زمونږه دیر ډویژن، هزاره ډویژن، په هغے کښ یو قسم Falls شته، په سدرن، دا سے نور په دے کښ بل قسم Falls شته او د ټولو نه څه نه څه زۀ وینم چه هغه راځی او دا جمع کیږی دے فنډ کښ، نو کم از کم که په هغه ایریا کښ هم اولګی چه کوم ایریا کښ ضرورت دے نو زما په خیال باندے په دے خو به فاضل ممبر صاحب ته دا سے

اعتراض نه وی۔ ہاں، که په داسے طریقه خرچ کیږی چه د هغے نه څه فائده نه کیږی نو کیدے شی چه مونږ د هغے مخ نیوے اوکړو او که دا په دے جنریشن او په دے پلانټیشن په دے ټوله صوبه کښ زما په خیال باندے هر ځائے اولگی نو ډیره ښه خبره ده۔ که نه د دۀ خبره دے حده پورے چه کوم ځنگل کټ کیږی نو په هغے کښ د ری پلانټیشن د پاره دا یو عمل دے چه هغے کښ مونږ د دے پلانټیشن کوؤ خامخا۔

<u>ڈاکٹر ذاکراللہ خان</u>: زما مقصد هم دا دے چه د فارسټ په ډیویلپمنټ باندے به صرف دا پیسے خرچ کیږی او د دے څیز نه علاوه که چرته کښ، دا د راسره لوظ اوکړی چه دا به د فارسټ په ډیویلپمنټ باندے خرچ شی۔

<u>وزیر جنگلات</u>: زۀ آن دی فلور دا خبره کوم، دا لوظ کوم چه دا فنډ صرف د فارسټ ډیویلپمنټ د پاره خرچ کیږی، د بل هیڅ مد د پاره دا نه شی خرچ کیدے۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ټهیک شو۔ کوئسچن نمبر 42، ډاکټر ذاکرالله، آنریبل ایم پی اے صاحب۔

* 42 _ <u>ڈاکٹر ذاکراللہ خان</u>: کیاوزیر ماحولیات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ دریائے سوات میں ٹراؤٹ مچھلی کی افزائش نسل کیلئے محکمہ ماہی پروری اقدامات کررہاہے;

(ب) آیا یہ درست ہے کہ دریائے سوات میں ٹراؤٹ مچھلی کی افزائش سے مقامی مچھلی کی نسل روز بروز کم ہوتی جارہی ہے:

(ج) اگر (الف) و(ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو حکومت اس مسئلے پر قابو پانے اور مقامی مچھلیوں کی نسل کے تحفظ کیلئے کیااقدامات کررہی ہے؟

<u>جناب واجد علی خان(وزیر جنگلات)</u>: (الف) ہاں، یہ درست ہے کہ دریائے سوات میں ٹراؤٹ مچھلی کی افزائش نسل کیلئے مدین، سوات میں ٹراؤٹ ہیچری 61-1960 سے مسلسل مچھلی پیدا کرنے کیلئے بنائی گئی ہے اور اس سے مسلسل دریائے سوات میں بچہ مچھلی چھوڑا جاتا ہے۔

(ب) یہ درست نہیں ہے کہ ٹراؤٹ مچھلی کی وجہ سے مقامی مچھلی کی نسل روز بروز کم ہوتی جا رہی ہے کیونکہ دریائے سوات میں ٹراؤٹ مچھلی کی افزائش عرصہ دراز سے جاری ہے اور اس کے ساتھ مقامی مچھلی کی نسل بھی دریا کے استعداد کے مطابق موجود ہے۔

(ج) محکمہ ماہی پروری مقامی مچھلی کی نسل کے تحفظ کیلئے راست اقدامات کر رہی ہے اور مقامی مچھلی کی افزائش کیلئے ملاکنڈ تھانہ میں ایک ہیچری موجود ہے۔ اس کے علاوہ مردان، پشاور، کوہاٹ، بنوں اور ڈیرہ اسماعیل خان میں دوسری اقسام کی مچھلیوں کی پیداوار بڑھانے کیلئے ہیچریاں موجود ہیں جن سے پیداوار دریائے سوات اور ان کے ملحقہ نالہ جات میں بچہ مچھلی کی شکل میں لاکھوں کی تعداد میں چھوڑا جاتا ہے۔ اس کے علاوہ اس مقصد کیلئے خصوصاً نسل کشی کے موسم میں جال سے شکار پر مکمل پابندی عائد کی جاتی ہے تاکہ قدرتی موسم میں انڈے دینے والی بالغ مچھلی کو تحفظ مل سکے اور ان کے بچوں کی محفوظ افزائش یقینی بنائی جا سکے۔

ڈاکٹر ذاکراللہ خان: دا کوئسچن جی، منسٹر صاحب خو جی، دغه سره خبره کومه جی، د دوئ د سوات متعلق ده۔ (قہقہہ) د سوات چه ما تپوس کړے دے چه په دریائے سوات کښ دا ټراوټ مچھلی چه دی، نو د دے په وجه باندے دا مقامی مهیان چه دی کوم چه سواتے مهے ورته وائی، د هغے کمے پکښ راروان دے۔ کمے پکښ راروان دے نو دوئ د هغے د پاره څه کړی دی؟ دوئ په جواب کښ راته خالص د ماشیر مهیانو، د ماشیر مهیانو د هغے د پاره چه په تهانه کښ هچری ده، په بنوں کښ او په ډیره اسماعیل خان کښ، دا د ګرمو اوبو مهے دے او دا خو ټهیک ده چه په دے ځایونو کښ کیږی، ما ترے خالص د سوات د دے تپوس کړے دے چه دا مقامی مهے چه کوم دے، د دے د پاره دوئ څه اقدامات کړی دی؟ نو د هغے د پاره دوئ هډو اقدامات نه دی کړی۔ دوئمه خبره دا ده چه په دے جواب کښ خطائی دا کړے ده چه ټراوټ مهے کوم ځائے کښ وی، په هغے کښ نور دا سواتے مهے نه شی پاتے کیدے، هغه دا خوری، ختموی ئے، نو زهٔ وایم چه د هغے د پاره دوئ څه اقدامات کړی دی، نو د دوئ جواب، بس لکه وائی چه نه، دا خو دواړه سائډ بائی سائډ یو ځائے پاتے کیدے نه شی د سره۔

جناب ڈپٹی سپیکر: واجد علی صاحب۔

وزیر جنگلات: مسٹر سپیکر سر، د فاضل ممبر صاحب چه کومه خبره ده، کوم تپوس ئے چه کړے دے، هغه دوئ ته مونږ ډیر په وضاحت سره ورکړے دے۔ داسے مهیان چه دی نو د هغے خپل، خپل زونز دی۔ ځنے مهی چه دی هغه په ګرمو اوبو کښ پاتے کیږی، ځنے په درمیانه اوبو کښ پاتے کیږی، ځنے په ډیرو یخو اوبو کښ پاتے کیږی۔ د ټراؤټ مهی زون چه دے، هغه د یخو اوبو دے نو د مدین د پل نه په لاندے ټراوټ مهے نشته۔ د هغے زون چه دے، هغه د مدین نه په بره کالام، اوشو، طورو پورے چه څومره یخه علاقه ده، دا په هغے کښ پیدا کیږی او دا په هغے کښ لوئیږی۔ بنیادی خبره اوس چه ده د مهو د کم والی، هغه دا نه ده چه مهے یو بل خوری، بنیادی خبره دا ده چه زمونږ سیندونه چه دی، هغه ډیر زیات Pollutedشو نو چه کله Pollutedشو، بل دا هوټلے ډیرے زیاتے په دے سیندونو باندے دی جی، د هغے نه ورته خلق ډوډئ غورځوی او سالن، سبزیانے مختلف، نو د مهو د خوراک هغه عادت چه دے، هغه بدل شوے دے۔ هغه Habit چه دوئ به څه خوړل، هغه اوس دوئ ته Extra څیزونه ملاویږی۔ بل هغے ته دومره Pollution solid waste غورځیږی چه د هغے پالوشن په وجه باندے د مهو هغه معیار او مقدار کم شوے دے، نو زمونږه خویونه هم ورسره خراب شوی دی۔ پکار دی چه مونږه خپلے اوبه پاکے اوساتو، مونږ خپل ماحول پاک اوساتو نو د هغے سره به مطلب چه څومره لائف دے، وائلډ لائف دے، یا سی لائف دے، هر څه چه دی، د هغے پکښ ضرورت کیږی، نو د دے د پاره موجوده وخت کښ دے ګورنمنټ د سوات ریور، د هغے د Preservation د پاره تقریباً د نهه سوه ملین، دا به وروستو هم راځی، هغوی یو پراجیکټ منظور کړے دے وفاقی ګورنمنټ سره او په هغے کښ به انشاء اللّٰه تعالیٰ دا چه څومره Solid wastesدی یا دا نوره ګندګی چه ده، هغه دے سیندونو ته لویږی، نو که د دے مخ نیوے اوشی نو زما یقین دے چه دا ټول ژوند چه دے د سیند، دا به پاک هم شی او دا به Developهم شی۔ نو زما په خیال باندے د دے سره سره که

نور عوامل چه دی، هغه د مهو په کم کښ هم ډیر زیات دی، نو که هغه مونږه Pursue کړو نو انشاءالله تعالیٰ چه دا به۔۔۔۔۔۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ٹهیک شوه، امید دے چه د واجد علی خان د تفصیلی جواب نه پس به ایم پی اے صاحب مطمئن وی۔

<u>ڈاکٹر ذاکر اللہ خان</u>: سپیکر صاحب! زۀ خپله خبره کومه۔ هغه خبره مے داده چه لکه مقامی مهے چه دے، دوئ د هغے متعلق لکه هیڅ کار نه دے کړے، دا ډیپارټمنټ پخپله باندے منی۔ دا خو جدا خبره ده چه دغه به، لکه د سیند اوبه خرابے شوے دی او هغه به ورته دوئ صفا کوی، داخو ډیر گران کار دے، هغه خو د هیپټائټس هم باعث جوړیږی۔ دا خو ټولے خبرے په خپل ځائے باندے دی خو د دے مهی د پاره نه چرته هیچری شته، نه دوئ د دے د پاره څه کوشش کړے دے۔ کوم چه د دوئ خپل سواتے مهے دے او هغه یو شان دے د دغے سیند جی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ذاکراللہ خان! کوی به، بس خیر دے۔

<u>ڈاکٹر ذاکراللہ خان</u>: زما خبره جی داده چه لکه څنګه سوات د دے خلقو نه او باجوړ دغه شان دغه شو په دے معاملاتو کښ، دغه شان دا ټراوټ او د دے نورو مهیانو د لاسه به دا دریائے سوات هم دغه شی، خو اوس د دعا کوی چه لکه دا فوجیان کوم پاتے دی نو د دے په وجه سیند ته څوک ورتلے نه شی چه مهیان اونیسی۔ پخپله که د دے نسل سوا شی نو دغه خبره ده نور د ډیپارټمنټ نه خو څه نشته جی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ٹهیک شوه جی۔ کوئسچن نمبر 54، نور سحر صاحبه، ایم پی اے۔

* 54 _ <u>محترمہ نور سحر</u>: (الف) آیا یہ درست ہے کہ دریائے سوات میں کالام سے لیکر درگئی تک لوگ گھریلو فضلہ پھینکتے ہیں، جس کی وجہ سے نہ صرف بیماریاں پھیلتی ہیں بلکہ قدرتی ماحول بھی آلودہ ہو رہا ہے:

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو حکومت مذکورہ فضلہ کو ٹھکانے لگانے کیلئے کیا اقدامات کر رہی ہے، تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب واجد علی خان(وزیر جنگلات): (الف) جی ہاں، یہ درست ہے کہ دریائے سوات میں کالام سے لیکر درگئی تک لوگ گھریلو فضلہ پھینکتے ہیں جس کی وجہ سے نہ صرف بیماریاں پھیلتی ہیں بلکہ قدرتی ماحول بھی آلودہ ہورہاہے۔

(1) گھروں کے فضلہ جات کو جمع کرنا اور محفوظ طریقے سے ٹھکانے لگانا ٹی ایم اے کا کام ہے۔ ادارہ تحفظ ماحولیات کا کام کارخانوں سے نکلنے والے فضلہ جات کی نگرانی کرناہے۔ادارہ تحفظ ماحولیات نے اٹھائیس ہوٹلوں اور تین ماربل فیکٹریوں کو نوٹس جاری کئے اور ان کے مالکان کو ہدایات کی گئی ہیں کہ وہ اپنے ہوٹلوں اور ماربل فیکٹریوں کے مائع فضلات اور گندگی کو ٹھکانے لگانے کیلئے مناسب اقدامات کریں۔ اس حکم کی خلاف ورزی کرنے والوں کے خلاف کیسز ماحولیاتی عدالت جو کہ 2007ء میں قائم ہواہے، میں داخل کر دیئے گئے جن میں سے تین ہوٹلوں کو ماحولیاتی ٹریبونل نے دس ہزار روپے جرمانہ کیا اور باقی ہوٹلوں کو ٹائم دیا ہے کہ وہ اس سلسلے میں مناسب اقدامات کریں اور کچھ کیسز ٹریبونل میں زیر سماعت ہیں۔فی الحال تو وہاں کی کشیدہ صورتحال کے پیش نظر سرگرمیاں معطل ہیں۔

(2) گھریلو فضلہ جات اور نکاسی آب کے سلسلے میں ٹی ایم اے اور ضلعی حکومت کی مدد کیلئے محکمہ ماحولیات نے پشاور مینگورہ اور ڈی آئی خان کی فیزیبلٹی بنائی اور وفاقی حکومت کی منظوری کیلئے بھیج دی۔ وفاقی حکومت نے منصوبے کیلئے ساٹھ کروڑ روپے مختص کئے ہیں لیکن یہ منصوبہ لوکل گورنمنٹ اور ڈسٹرکٹ گورنمنٹ آگے چلائے گی۔ادارہ تحفظ ماحولیات نے پراجیکٹ بناکر لوکل گورنمنٹ کے حوالے کر دیاہے۔

(3) ایک اور منصوبہ، "دریائے سوات کا تحفظ" کے نام سے بنایا گیا جو کہ وفاقی حکومت کو بھیج دیا گیا۔ وفاقی حکومت نے اس منصوبہ کو مزید جامع بنانے کیلئے ایک فرم کو فنڈز فراہم کئے اور اس فرم نے اس منصوبہ کی فزیبلٹی رپورٹ تیار کر کے وفاقی حکومت کو مہیا کی جس کی لاگت تقریباً نو سو ملین روپے ہے جس کے مطابق دس مقامات، کالام، بحرین، مدین، میاندم، خوازہ خیلہ، چار باغ، بریکوٹ، کبل، مٹہ، بٹ خیلہ جو کہ دریائے سوات کے کنارے واقع ہیں، کو ایک ایک ٹرک، ڈسٹ بنز، ہینڈ کارٹز، شاول، سپرے مشینیں وغیرہ مہیا کی جائیں گی جبکہ مینگورہ شہر کے فضلات کو ٹھکانے لگانے کیلئے دو سو سولہ ہینڈ کارڈز، سولڑ ہنز، دو سو سولہ برومز، سات ہوسٹ ٹرک، ترالیس کنٹینرز (5m) ایک ٹریکٹر مہیا کئے جائیں گے۔ مائع فضلات کو ٹھکانے کیلئے دس

بڑے قصبوں میں تقریباً اکانوے بڑے کمیونٹی سیفٹک ٹینک گھروں کیلئے قائم کئے جائیں گے جبکہ مینگورہ شہر کیلئے ایک ویسٹ واٹر ٹریٹمنٹ پلانٹ لگایا جائے گا۔ اس فزیبلٹی رپورٹ پر بریفنگ کیلئے مورخہ 23 مئی 2008 کو منسٹری آف انوائرمنٹ، اسلام آباد میں ایک میٹنگ رکھی گئی ہے جس میں تمام اسٹیک ہولڈرز کو دعوت دی گئی ہے۔ انشاء اللہ اس منصوبہ پر جلد از جلد عملدرآمد کیا جائے گا تاکہ دریائے سوات کو آلودگی سے پاک کیا جاسکے۔

محترمہ نور سحر: شکریہ، سپیکر صاحب۔ یہ جو سوالات میں نے کئے تھے، انہوں نے جو جوابات دیئے، ان سے تو میں مطمئن ہو جاتی ہوں لیکن تینوں جوابات میں انہوں نے یہ لکھا ہے کہ اس پر ابھی کام شروع کریں گے، ابھی شروع کیا نہیں ہے انہوں نے۔ ابھی خود منسٹر صاحب نے فرمایا کہ جو گند وغیرہ جاتا ہے دریا سے تو اس سے کتنے مسئلے ہمارے لئے پیدا ہوتے ہیں، تو میں یہ کہہ رہی ہوں کہ یا اس کو پینڈنگ رکھا جائے یا اس کو کمیٹی میں بھیجا جائے کیونکہ جب تک اس کا حل نکالنے کا عمل شروع نہیں ہو جاتا تو اس وقت تک میں Satisfied نہیں ہوں گی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: واجد علی صاحب۔

وزیر جنگلات: دے بی بی چه کوم سوال کړے دے نو دا یقیناً د دے سوات د پاک والی د پاره یو اهم سوال دے او یقیناً چه په دے حکومت تلے هم دے ، په دے مخکښ جواب کښ هم ما تقریباً د هغے ذکر او کړو چه دومره Solid waste لوېږی دریائے سوات ته چه زما خیال دے تین هزار ټن نه به Above هغه لوېږی دے دریائے سوات ته او دغه وجه ده چه دا Environmental Department یو ډیر زیات یو Task واغستو او دا ځان ته یو ټارګټ ئے مقرر کړو چه د هغے د پاره ئے اوس خپل ټول فیزیبیلټی تیار کړے ده، پی سی ون ئے تقریباً په آخری مرحلو کښ دے ، د نو سو ملین روپو پراجیکټ چه دے ، یو بالکل لوئے پراجیکټ د نوے کروړ روپو چه په دے باندے تقریباً چه څومره کلی دی او ښارونه دی د ښځیلے او تهانړے پورے ، په دے کښ دا غټ غټ Safety tanks او ورسره د Treatment plants او د دے Recycling plants، دا مختلف مرحلے چه دی، دا په هغے کښ موجود دی او شته او انشاءالله

تعالیٰ دکلو دا سخا اوبه چه دی، چه هغه سیندونو ته زمونږه لویږی، د هغے د پاره مکمل پراجیکټ دا روان دے۔ یو بل پراجیکټ چه دے ، هغه د شپږ سوه ملینه روپو چه دے یو بل هم، په هغے باندے کار روان دے چه په هغے کښ سکال هم سل ملین روپئ صوبائی گورنمنټ په بجټ کښ ایښودلی دی چه د Solid wasteد ختمیدو د پاره یا د هغے د غورځیدو د پاره د هغے Allocation شوے دے ، نو زهٔ دوئ ته دا یقین دهانی ورکومه چه انشاءالله تعالیٰ دا زمونږه خاوره ده او زمونږ وطن دے ، د دے هره برخه چه ده، هغه زمونږ د پاره مقدسه ده نو چه دا سے څومره څیزونه دی چه هغه زمونږه ژوند ته خطره ده، د هغے د مخ نیوی د پاره به مونږ خپل کوششونه کوؤ او موجوده حکومت خو هغه حکومت دے چه هغه په دے شلو ورځو پروګرام کښ Environment ته د ټولو نه لوئے اهمیت ورکړے دے او دا واحده صوبه ده چه دے ایکټ هم جوړ کړے دے ، دے د Environment د پاره ټریبیونل هم جوړ کړے دے چه په دے کښ تقریباً دوه سوه مقدمے شوے هم دی چه په هغے کښ تقریباً ایک سو چهتر د حکومت په حق کښ شوے دی نو دا حکومت د Environmentپه حواله باندے ډیر زیات Consciousدے۔ اوس هم مطلب دا دے Proposed laws چه دی، هغه مونږه ټول Circulateکړی دی ډیپارټمنټ ته، پروفیسرز ته، سول سوسائیټیز ته چه تاسو هغوی ته خپل Input ورکړئ۔ که هغه Input راشی، انشاء الله تعالیٰ هغه به د یو ایکټ په شکل کښ، د لاء په شکل کښ د دے اسمبلئ په فلور باندے راوړو، کیږدو به ئے چه مونږه نور خپل ماحول زیات نه زیات بچ کړو او هغه پاک کړو۔

جناب ڈپٹی سپیکر: امید دے چه زمونږه گرانه ایم پی اے صاحبه به تفصیلی جواب نه پس مطمئنه وی او انشاء الله کوی به چه څه د دوئ فرائض کښ راځی۔

محترمہ نورسحر: محترم سپیکر صاحب، چه تر څو پورے دے باندے کار نه دے شروع شوے یعنی مطلب دا دے چه تر څو پورے په دے باندے عملی کار نه دے شروع شوے نو تحریری کارونو باندے زهٔ دومره یقین نه کومه۔ یا ئے پینډنګ اوساتئ یا ئے کمیټئ ته حواله کړئ لکه ستاسو خپله خوښه ده۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تھیک شو، مهربانی۔ کوئسچن نمبر 127، سید قلب حسن، ایم پی اے۔

* 127 _ سید قلب حسن: کیاوزیر ماحولیات وجنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ محکمہ جنگلات کوہاٹ نے گزشتہ دو سالوں میں ترقیاتی وغیر ترقیاتی اخراجات کئے ہیں:

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو کوہاٹ فارسٹ ڈیپارٹمنٹ کے پچھلے دو سالوں کی ترقیاتی اور غیر ترقیاتی اخراجات کی تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب واجد علی خان (وزیر جنگلات): (الف) جی ہاں۔

(ب) گزشتہ دو سالوں میں ترقیاتی اور غیر ترقیاتی اخراجات کی تفصیل لف ہے۔

سید قلب حسن: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: آنریبل ایم پی اے صاحب، صابر شاہ صاحب سے درخواست ہے کہ وہ نوٹس دے دیں تو پھر We will proceed under rule 48۔

سید قلب حسن: سپیکر صاحب! تاسو دے کوئسچن ته به اوګورئ، 07-2006 کښې ترقیاتی کارونه چه شوی دی، 5.98 ملین او 3.84، دا 9.82 ملین ترقیاتی کارونه دی، او د تنخواګانو مد کښې چه کوم رقم خرچ شوے دے، هغه 15.332 ملین دے۔ زما یو خو دے کښې د دے سوال مقصد صرف دا دے چه دا کومه محکمه ده، محکمه جنګلات، د دے د اصلاح اوشی او د دے کارکردګی بهتر شی۔ دے کښې سپیکر صاحب، که تاسو اوګورئ "فیل شدہ بوٹوں کو دوبارہ لگانا"، 07-2006 کښې 2.884 ملین او بیا بارانی پراجیکټ نه 07-2006 کښې دوباره دے باندے 1.960 ملین خرچه شوے ده، هغه تقریباً چار ملین خرچه ده۔ بیا 08-2007 کښې دوباره 10.346 ملین یو دے باندے خرچه شوے ده او 1.36 ملین "فیل شدہ پودوں کو دوبارہ لگانا" او بیا بارانی پراجیکټ نه 1.669 ملین دوباره دے باندے خرچه کړے ده۔ مقصد مے صرف دا دے چه دا دوه کالو کښې تقریباً پچیس ملین روپئ دے بوټو باندے لګیدلے دی، پکار خو دا ده چه

کوهاټ او سوات کښې فرق نه وے۔ په گراونډ باندے مونږ ته د دوئ کارکردگی نه ښکاری چه دا څه وجه ده؟ دا که لږ منسټر صاحب Explain کړی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب واجد علی صاحب۔

وزیر جنگلات: دوئ چه کوم طرف ته نشاندهی کړے ده نو د دے تقریباً 2215 ایکړ رقبه چه ده، هغے باندے د دے پلانټیشن شوے دے او په هغے باندے دا 2.884ملین خرچه شوے ده۔ په دے کښې د سیزن، د موسم ټول عوامل شامل وی او څکه څنے وخت کښې که پلانټیشن ډیر هم اوشی خو چه موسم ورته ښه نه وی، بیا خاصکر کوهاټ او زمونږ جنوبی اضلاع چه دی، نو په هغے باندے بوټی نه شی کیدے، نویقیناً چه که په دے کښې داسے څه خبره وی او په دے کښې زمونږ دوه Departmental Planning & Monitoring Cell د دے ټولو څیزونو انکوائری کوی او چه کوم ځائے کښې پلانټیشن کیږی، هغے له هم ځی۔ چه کوم ځائے پلانټیشن خرابیږی، د هغے به هم انکوائری کوی، نو داسے موقعو باندے مونږ گورو چه داسے څومره پلانټیشن شوے دے، څومره په دے کښې فیل شوی دی، څومره تنخواگانے، نو دا ټول په دے کښې ورکړے شوی دی، داسے څه خبره پټه نه ده پاتے شوے د هاؤس نه۔ یقیناً که په دے کښې داسے څه خبره وی نومونږ به په ډیپارټمنټ، څنگه چه زما دلته کښې یو خپل Cell موجود دے، د Planning & Monitoring Cell، نو د هغے په مطابق به انشاءاللّٰه تعالیٰ کوشش دا کوؤ چه د دے انکوائری هم اوکړو او که داسے څه خبره پکښې وی چه فاضل ممبر صاحب د هغے نشاندهی اوکړی، نو د هغے به مونږه ازاله هم کوؤ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: امید دے چه تاسو به دوئ نه مطمئن یئی۔

سید قلب حسن: مطمئن یم۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ډیره مهربانی۔ ښه بابک صاحب، دا پرون یو سوال نمبر 31 اسرارالله گنډا پور صاحب کړے وو او په هغے کښې زمونږ سپیکر صاحب دا ډائریکشن ایشو کړے وو چه د دے سره کوم Enclosures دی، هغه د Provide کړی

ډیپارټمنټ، As per record such enclosures have not been provided، دا جی۔۔۔۔۔۔

جناب سردار حسین بابک (وزیر برائے ثانوی تعلیم): او جی۔ سپیکر صاحب، مهربانی۔ پرون چونکه۔۔۔۔۔۔۔

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور: جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تاسو تشریف کیږدئ، خیر دے یو منټ۔۔۔۔۔

وزیر برائے ثانوی تعلیم: پرون چونکه Documentation ډیر زیات وو، ما پرون دا وضاحت کړے وو چه د Documentation د زیاتوالی په وجه چه کوم Concerned MPA صاحبان دی، هغوی ته مونږ دا کاپیانے ورکړے وے خو عبدالاکبر خان صاحب دا Stand واغستو چه دا کاپیانے مونږ ته Provide کړئ نو د پرون نه واخلئ ټوله شپه هم هغه سټاف ناست وو او دا ډیر زیات Documentation وو نو په دغه وجه باندے بیا مونږه نن سحر ریکویسټ اوکړو۔ چونکه بجلی هم تله راتله نو هغه په هغه سټیج باندے 250 کاپئ وے، هغه مکملے نه شوے او اسرار خان او عبدالاکبر خان صاحب ته ما ریکویسټ اوکړو چه چونکه دا خو هسے د پیسو او د وخت ضیاع ده، نو لهذا نن چه هغه آنریبل ممبران څه وائی، انشاء الله هغوی سره به مونږ Agree کیږو۔

جناب ڈپٹی سپیکر: اسرار اللہ گنڈاپور۔

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور: سر، اس سلسلے میں جو کل Decision ہوا تھا، وہ چونکہ سب ممبران کو دی انہیں گی اتھا یہ جو اضافی مواد تھا اس کے ساتھ، تو میری اس میں Submission یہ ہے کہ عبدالاکبر خان صاحب سے بھی میں نے یہ ریکویسٹ کی تھی کہ جب ہم یہاں پر بیٹھتے ہیں، تو یقیناً Facts finding ہمارا کام ہے، جتنی کاپیاں ہو چکی ہیں، اگر وہ ساری کاپیاں کرائیں گ ے، تقریباً ڈھائی لاکھ، ڈیڑھ لاکھ غالباً خرچہ آ رہا ہے تو میں نے ان سے ریکویسٹ کی ہے کہ یہ کام کمیٹی میں بھی ہو سکتا ہے، As a Mover اگر منسٹر صاحب میرے ساتھ Agree کرتے ہیں کہ اس کو ہم کمیٹی کو ریفر کر دیں اور اگر عبدالاکبر خان صاحب

وہاں آنا چاہیں گے تو کمیٹی میں بھی یہ سارا ریکارڈان کے سامنے ہو گا۔ باقی ہمارے ڈی آئی خان کے بھی ممبران ہیں، تو میری چیئر سے یہ گزارش ہو گی کہ منسٹر کی Consent کے ساتھ اگر آپ اس کو کمیٹی کو ریفر کر دیں۔

وزیر برائے ثانوی تعلیم: بالکل جی۔ څنګه چه آنریبل ممبر صاحب اووئیل، زۀ هغوی سره Agree کومه، بالکل مونږ ئے ریفر کوؤ کمیټئ ته۔

جناب ڈپٹی سپیکر: کمیټئ ته؟

وزیر برائے ثانوی تعلیم: بالکل جی، هغه مونږه هغوی سره پوره پوره Agree کیږو او د دے ټول Where about نه، د دے ټول ډیټیل نه دوئ پخپله هم خبر دی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: متعلقہ کمیٹی کو حوالہ کیا گیا۔

الحاج ثناء اللہ خان میانخیل: سر، میری اس میں آپ سے ریکویسٹ ہو گی کہ تمام کو شامل کیا جائے اس خصوصی کمیٹی میں تاکہ اس میں وہاں پر۔۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: سردار صاحب! د ثناء اللہ خان سوال طرف ته لږ توجه اوکړئ جی۔

الحاج ثناء اللہ خان میانخیل: یا خصوصاً، چونکہ میرا اور ان کا Combined یہ تھا، کم از کم ہمیں اس میں شامل کیا جائے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: دا د کومے کمیټئ باره کښ ذکر اوشو، د دوئ دا تجویز دے چه په دے کښ متعلقه ممبران د هم شامل کړے شی۔

وزیر برائے ثانوی تعلیم: بالکل زما یقین دے چه آنریبل میانخیل صاحب خو بذات خود هم آفس ته راغلے وو، مونږ Personally هم دے کښ ملاؤ شوی یو، د دے ټول ډیټیل نه هم دوئ خبر دی۔ بیا هم که د دوئ څه شکایت وی، زما یقین دا دے چه دا انکوائری چه Conduct شوے ده، دوئ بذات خود د دے نه خبر دی او زما یقین دا دے چه زمونږ مشر خو په دے حواله د دے ټول ډیټیل نه ډیر زیات ښه خبر دے۔ انشاء اللہ د هغوی Consultation سره به دا چه کومه دریمه انکوائری ده چه هغه مونږه کومه Conduct کوؤ سپیکر صاحب، بالکل دوئ به ترینه مطمئن وی انشاء اللہ د دے نه۔

جناب ڈپٹی سپیکر: امید دے چه۔۔۔۔۔۔۔

الحاج ثناء اللہ خان میانخیل: جناب سپیکر! انہوں نے جواقدامات اٹھائے ہوئے ہیں، صرف یہ ہے کہ اسمبلی کے فلور کے، کمیٹی جو ابھی تشکیل اس کے متعلق ہو گی، اس میں میں نے ریکویسٹ کی ہے کہ اگر منسٹر صاحب، چونکہ ہم سارے On board ہیں، ان کو پتہ ہے اور انہوں نے مہربانی کی ہے اور اس میں تحقیقات جو ہو رہی ہیں اور جو ہوئی ہیں، ان میں سارا ریکارڈ جناب کے سامنے آیا ہے تو میں نے صرف یہ ریکویسٹ کی ہے کہ اس کمیٹی میں جہاں پر ہم Movers ہیں، اسرار اللہ خان اور میں، تو کم از کم ہم دو کو، جس کمیٹی کو ریفر کر رہے ہیں، اس میں رکھنے کیلئے۔۔۔۔۔۔۔

وزیر برائے ثانوی تعلیم: بالکل سپیکر صاحب، مونږ ته په دے خبره هیڅ اعتراض نشته چه زمونږ مشران په هغے کښې شامیلدل غواړی، بالکل Willingly هغوی تاسو، چه په هغے کښې تاسو شامیلدل غواړئ، بالکل۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ٹهیک شوه۔

الحاج ثناء اللہ خان میانخیل: سر، اس میں میری یہ عرض تھی کہ اس میں مجھے شامل کر لیں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ٹهیک شوه۔

## اراکین کی رخصت

جناب ڈپٹی سپیکر: معزز اراکین کی طرف سے رخصت کی درخواستیں، ان معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں: جناب سلیم خان، وزیر بہبود آبادی، 19-08-2008 کیلئے: محترمہ ڈاکٹر فائزہ رشید صاحبہ، ایم پی اے، 19-08-2008 کیلئے: جناب محمد جاوید عباسی صاحب، ایم پی اے، 19-08-2008 کیلئے تو Is it the desire of the House that leave may be granted?

(The motion was carried)

Mr. Deputy Speaker: Thank you very much. Leave is granted.

## آرڈیننس ہا

Mr. Deputy Speaker: Now we are coming to Item No. 8 regarding some ordinances. The Honourable Minister for Law, on behalf of Honourable Chief Minister, NWFP to please lay on the table of the

House, the NWFP Maintenance of Public Order (Amendment) Ordinance, 2008.

Barister Arshad Abdullah (Minister for Law): Thank you, Sir. I wish to present and lay before this august House the North-West Frontier Province Maintenance of Public Order (Amendment) Ordinance, 2008 for consideration of this House and its passage forthwith. Thank you.

Mr. Deputy Speaker: The ordinance stands laid. Item No. 9. The Honourable Minister for Law, on behalf of Honourable Chief Minister, NWFP, to please lay on the table of the House the Code of Criminal Procedure, NWFP (Amendment) Ordinance, 2008.

Minister for Law: Thank you, Sir. I wish to lay before this august House the Code of Criminal Procedure North-West Frontier Province (Amendment) Ordinance, 2008, for consideration and passage of this amendment forthwith. Thank you.

Mr. Deputy Speaker: The ordinance stands laid. Item No. 10. The Honourable Minister for Housing, NWFP to please lay on the table of the House the Defence Housing Authority Peshawar Ordinance, 2008. Minister for Housing, please.

جناب پیر صابر شاہ: جناب سپیکر! ہم اس کو Oppose کر رہے ہیں- کل ہی جنرل صاحب سے ہماری جان چھوٹی ہے، اب پھر ہم پہ یہ چیز مسلط کر رہے ہیں۔ میرے خیال میں وزیر اعلیٰ صاحب نہیں ہیں تو ہماری پارلیمانی پارٹیوں کے جو قائدین اور جو ہیڈ آف دی پارٹیز ہیں، ہم اس پر بیٹھ کر بات کریں۔ اس پر ہمارا Serious concern ہے۔ یہ بہت زیادتی ہوگی صوبہ سرحد کے عوام کے ساتھ۔ میں سمجھتا ہوں کہ اس کو ابھی Lay نہ کیا جائے تاکہ ہم سب پارلیمانی پارٹی کی لیڈر شپ بیٹھ کر اس پر بات کریں اور اس کو ہم ڈسکس کرنا چاہتے ہیں۔ جناب سپیکر! اس کو فی الحال پینڈنگ رکھا جائے۔ یہ بالکل ہم ایک مصیبت کا شکار ہوں گے اور اس پر ہم سب بات کرنا چاہتے ہیں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: معزز ممبران صاحبان سے ریکویسٹ ہے کہ ایک تو انہوں نے اس کے خلاف کوئی نوٹس نہیں دیا۔ دوسری بات یہ ہے کہ The ordinance stands laid subject to objections of all the concerned.

Mr. Amjad Khan Afridi (Minister for Housing): Mr. Speaker Sir، I beg to lay on the table of the House 'The Defence Housing Authority Peshawar Ordinance, 2008. Thank you.

جناب عبدالاکبر خان: What, Is it not laid? یہ تو Lay نہیں ہوا ہے۔ یہ آپ کا اپنا ہے؟۔۔۔۔

## امن وامان کی صورتحال پر عام بحث

Mr. Deputy Speaker: Item No. 11, 'General discussion on Law and Order situation'. Dr. Muhammad Raza Zakori Sahib, Honourable MPA.

ڈاکٹر محمد خالد رضا زکوڑی: جناب سپیکر صاحب! سب سے پہلے تو میں آپ کی وساطت سے اس ایوان کو اور پوری قوم کو مبارکباد پیش کرتا ہوں کہ ہمیں ایک ڈکٹیٹر سے نجات ملی اور انشاءاللہ اب یہ ملک ترقی کرے گا۔ ملک کے ادارے مضبوط ہوں گے، جمہوریت پھلے گی اور پھولے گی اور قیام پاکستان کے مقاصد کو پورا کیا جائے گا۔ میں یہ بھی عرض کرنا چاہوں گا کہ اس استعفیٰ سے ملک کے تمام اداروں پر مثبت اور نیک اثرات پڑیں گے، سیاسی عدم استحکام کا خاتمہ ہوگا، اس ملک کی معیشت انشاءاللہ بحال ہوگی اور لاء اینڈ آرڈر کی صورتحال مزید انشاءاللہ اچھی ہو جائے گی، Improve ہو جائے گی۔ جناب سپیکر صاحب! اس ملک میں جتنے بھی بحران ہیں، چاہے معاشی بحران ہے یا سیاسی بحران ہے، میں سمجھتا ہوں کہ اس کی سب سے بڑی وجہ ایڈہاک ازم ہے اور ایڈہاک ازم کی جو تقسیم ہے، اس میں پولیٹکل ایڈہاک ازم اس کی Mother cause ہے۔ پولیٹکل ایڈہاک ازم سے میری مراد غیر سیاسی حکومتیں ہیں۔ غیر سیاسی حکومت میں سارے لوگ برے نہیں ہوتے مگر سب سے بڑی خرابی یہ ہوتی ہے کہ ایک شخص میں سارا اقتدار اور اختیار مرتکز ہو جاتا ہے جبکہ عوامی حکومتیں، سیاسی اور جمہوری حکومتیں عوام کو جواب دہ ہوتی ہیں اور عوام کی جو نمائندہ فورمز ہیں، ان کو جواب دہ ہوتی ہیں۔ آج ہمارے ملک میں سیاست اچھے اور Right direction میں چلنے لگی ہے اور غیر سیاسی لوگ Replace ہو رہے ہیں۔ اس شخص کا استعفیٰ آخری کڑی انشاءاللہ ثابت ہو گی اور چند روز پہلے جب اس ملک میں Impeachment کی باتیں ہو رہی تھیں تو اس شخص نے کہا تھا کہ ممبروں کو خریدوں گا، میں آپ سے معلوم کرنا چاہتا ہوں کہ کیا سیاستدان جانور ہیں کہ وہ بکیں؟ کیا Saleable commodity ہیں، کیا وہ ایسی جنس ہیں جس کی ہر کوئی قیمت لگاتا پھرے؟ اس شخص نے سیاستدانوں کو سمجھا نہیں اور آج اس کا خاتمہ سیاستدانوں

کی بدولت ہوااور عوامی قوت اور عوامی قوت کے بل بوتے پر ہوااور آمریت ہمیشہ کیلئے دفن ہو گئی۔ میں یہاں لاء اینڈ آرڈر کی بات کروں گا۔ میں یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ آپ یہ دیکھیں کہ اس وقت بڑا مسئلہ، سب سے اہم مسئلہ اور سب سے کمپلی کس مسئلہ امن وامان کی صورتحال ہے، وہ آپ کی اور ہماری سیکورٹی ہے۔ شاید تاریخ نے ایسا کمپلی کس مسئلہ پہلے کبھی نہ دیکھا ہو۔ آج پورے ملک میں بالعموم اور صوبہ سرحد میں بالخصوص امن وامان کی صورتحال بگڑی ہوئی ہے۔ عوام تو درکنار قانون نافذ کرنے والے ادارے بھی بے بس نظر آتے ہیں، ان کی سوچ مفلوج ہو چکی ہے، ان کا کوئی حربہ کارگر ثابت نہیں ہو رہا اور پوری قوم متفکر اور پریشان ہے۔ یہ مسئلہ اتنا پھیل چکا ہے سرطان کی طرح کہ اس میں ایک طبقہ نہیں بلکہ کئی طبقے Involve ہیں۔ ایک ملک نہیں، کئی ملک اس میں Involve ہیں، ایک آئیڈیالوجی نہیں، کئی آئیڈیالوجیز کارفرما ہیں۔ صرف دینی حوالے سے نہیں، دنیاوی حوالے سے بھی اس میں Involvement ہے اور اس کی جڑیں اتنی گہری ہیں اور پھیلی ہوئی ہیں کہ تمام ممالک سے ہوتے ہوئے اور کچھ ممالک سے ہوتے ہوئے بات براعظموں تک جا پہنچی ہے۔ لہذا اس مسئلے کو ایڈہاک ازم کے ذریعے ہمیں Tackle نہیں کرنا چاہیئے۔ اگر آپ ایک درخت کو کاٹنا چاہتے ہیں، اس کی آپ شاخیں کاٹ دیں، اس کے پتے کاٹ دیں تو وہ اور پھلے گا اور پھولے گا مگر اگر آپ اس کی جڑ کو کاٹیں گے تو وہ کٹ جائے گا۔ اسی طرح ہم نے یہ بھی دیکھا کہ فورس کا استعمال نہیں چلا اور آپ یہ دیکھیں کہ ہر مسئلے کا حل طاقت نہیں، ہر مسئلے کا حل فورس نہیں اور پھر پختونوں کی کچھ روایات ہیں، وہ طاقت کے سامنے سر تسلیم خم نہیں کرتے۔ جب دنیا کی سپر طاقت بھی ان کو رام نہ کر سکی تو کیسے اس مسئلے کو طاقت کے ذریعے حل کیا جا سکتا ہے؟ اور میں یہ عرض کروں گا کہ ہمیں اس مسئلے کو جلدی Tackle کرنا چاہیے۔ کیوں؟ اسلئے میں یہاں ایک بات کہنا چاہتا ہوں کہ اگر کوئی شخص، اگر کوئی صوبہ، اگر کوئی طبقہ یہ سمجھتا ہے کہ وہ بچ جائے گا تو یہ ان کی بھول ہے اور کئی مثالیں تاریخ میں موجود ہیں مگر میں ایک سادی سی مثال دوں گا۔ ہندوستان سب سے بڑا ملک تھا، بہت بڑا ملک تھا اور ہندوستان کی حیثیت ایک چھوٹے براعظم کی تھی، اگر ہندوستان کا کونہ کونہ تقسیم ہند کے نعرے کی زد سے بچ نہ سکا اور ہندو مسلم فسادات کی زد سے بچ نہ سکا تو پاکستان تو اس کا دسواں حصہ ہے، پاکستان کا کوئی طبقہ اور صوبہ کیسے بچ سکتا ہے؟ میں یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ جناب سپیکر صاحب، اس وقت کئی انٹرنیشنل فورسز برسرپیکار ہیں اور جب سوات جیسی خوبصورت خطہ زمین جو

انٹرنیشنل ٹورازم کامرکز رہی ہے، وہ اس آگ میں چلی گئی تو باقی لوگ کیسے بچنے پائیں گے ؟اور میں یہ عرض کروں گا جناب سپیکر صاحب، کہ ہم اپنے صوبے کے نام سے فرنٹیئر کو جھاڑنے کی کوشش کر رہے ہیں، ٹھیک ہے فرنٹیئر کوئی نام نہیں ہے، شمال مغربی سرحدی صوبہ کوئی نام نہیں اور اگر ہمارے صوبے کو شمال مغربی سرحدی صوبہ کہنا ضروری ہے تو پھر پنجاب کو شمال مشرقی سرحدی صوبہ کیوں نہیں کہا جاتا؟ (تالیاں) پھر سندھ کو جنوب مشرقی سرحدی صوبہ کیوں نہیں کہا جاتا؟ پھر بلوچستان کو جنوب مغربی سرحدی صوبہ کیوں نہیں کہا جاتا؟ مگر مجھے افسوس سے کہنا پڑتا ہے کہ ہمیں فرنٹیئر بنادیا گیا ہے، ہمیں خطرناک جنگ میں جھونکا گیا ہے۔ ایک ایسی جنگ میں کہ جس سے کوئی راہ فرار نہیں اور ہمیں راہ فرار اختیار بھی نہیں کرنی چاہیئے۔ اس وقت قوم کو ہمیں کامیاب لیڈر شپ دینی چاہیئے، جس طرح ہمارے بزرگوں نے دی کہ انہوں نے برصغیر پر سینکڑوں سال حکومت کی اور ایک کامیاب لیڈر شپ دی اور میں شیر شاہ سوری کا نام لوں گا، ہندوستان کو کوئی مائی کا لعل شیر شاہ سوری کی طرح کامیاب لیڈر شپ نہیں دے سکا۔ اور آخر میں ایک بات عرض کروں گا کہ آپ امن وامان کے حوالے سے ایوان کی ایک کمیٹی بنائیں جس میں حزب اقتدار کے لوگ بھی ہوں اور حزب اختلاف کی طرف سے بھی ہوں مگر یہ کمیٹی سپیکر صاحب، روایتی نہیں ہونی چاہیئے، اس ملک میں جب بھی کوئی کمیٹی بنتی ہے، روایت یہ ہے کہ اسلئے بنائی جاتی ہے کہ اگر آپ کو کوئی کام نہ کرنا ہو تو اس کو کمیٹی کے حوالے کیا جاتا ہے، میں سمجھتا ہوں کہ اس کمیٹی میں درد مند لوگ ہونے چاہئیں، میں سمجھتا ہوں کہ Willing لوگ ہونے چاہئیں، ایسے لوگ ہونے چاہئیں جو تمام فکٹرز کو Thoroughly analyze کریں اور تھوڑے وقت میں اپنی Recommendations پیش کریں اور ان Recommendations پر پھر ہم بات کریں مرکز سے کہ ان کو Implement کیا جائے اور مرکز سے بھی ہمیں جرات سے بات کرنی چاہیئے۔ ہم مریں تو جرات سے مریں، یہ نہ ہو کہ سسک سسک کر مریں اور غلام بن جائیں۔ آخر میں اس حوالے سے میری یہ گزارشات تھیں، بہت بہت شکریہ۔

(تالیاں)

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> شکریہ۔ جناب قیصر ولی خان، پی ایف-78، بونیر 2۔

جناب قیصر ولی خان: جناب سپیکر، د وخت را کولو ستاسو ډیره مننه۔ زهٔ نن، د بونیر کوم صورتحال د امن و امان په سلسله کښے، چه کوم مونږ د هغے سره مخ په مخ یو، مونږ ته هلته په تیر، د کنګر ګلئ د پولیس واقعه، د دے نه مخکښ د پیر بابا په چوکئ کښ چه زمونږه د شلبانډئ او زما د حلقے سره تعلق لرونکے اے ایس آئی او سپاهیان چه کوم یو شهید شوے وو او سپاهیان زخمیان شوی وو، د هغے په دویم دغه کښے زمونږ د کنګر ګلئ په چوکئ باندے چه هغه د سید رحیم خان حلقے سره تعلق ساتی، په هغه حمله کښ هلته اته کسان شهیدان شوی دی۔ د هغے نه روستو د سیکورټی په حواله باندے چه مونږ ته کوم مشکلات راپیښ دی، زمونږ سره د سوات، د بونیر، د کړاکړ په چیک پوسټ باندے فی الحال سیکورټی بالکل نشته۔ زمونږ سره د سخاکوټ، د بازدرے په مقام باندے چه ملاکنډ ایجنسی مونږ سره لګیدلے ده، په هغے کښ د سیکیورټی انتظامات بالکل نشته۔ ورسره د مردان د کاټلنګ په روډ چه کومه باؤنډری زمونږه د بونیر سره لګیدلے ده، فی الحال په هغے کښ د سیکورټی انتظامات بالکل نشته۔ د سوات، د کلیل په کنډاؤ چه د سوات سره زمونږه لګیدلے پوله ده، فی الحال په هغے کښ د سیکورټی انتظامات د نیشت برابر دی۔ جناب سپیکر صاحب، د دے نه تیر چه زمونږ په حلقه کښے شپږ کسان شرپسند چه په دغه واقعاتو کښے ملوث وو او هغه قامی لشکر په هغه سلسله کښ په خپل ګهیراؤ کښ واغستل، هغه شرپسند شپږ کسان هغوی هلاک کړل۔ جناب سپیکر، زمونږ د مرکزی حکومت نه، د صوبائی حکومت نه د بونیر د امن په سلسله کښ دا درخواست دے چه صرف او صرف د بونیر عوام کښ خپل قومیت،هغوی خپلے کمیټئ، قامی کمیټئ، پهاټکونه په خپل لیول باندے جوړ کړی دی خو چونکه نن مونږ د ډیر مشکلاتو سره مخ یو، نو زمونږ د معزز ایوان په وساطت دا تجویز دے چه په دغه سلسله کښ د زمونږ سره د حکومت، د صوبائی او مرکزی اړخ نه تعاون اوشی۔ جناب سپیکر، په دے حواله زمونږ دلته کومے کمیټئ چه مونږ جوړے کړے دی، په هغه کمیټئ کښ یوائے دا نه چه چا خپل کلی او محلے ساتلے، ورسره ورسره هغه کمیټئ اوس هم موجوده د پولیس په هغه تهانړو کښ او چوکو کښ خپله

ډیوټۍ ورکوی۔ زما خواست دے چه تیر هم مونږه د آئی جی پی صاحب سره، د وزیر اعلیٰ صاحب سره وخت په وخت رابطے کړے دی چه مونږ ته د ایف سی ځلور پلاټونه، د پولیس ځلور پلاټونه سیکورټۍ پکار ده، تاحال تر اوسه پورے مونږ ته د سیکورټۍ په حواله هیڅ انتظامات نه دی شوی۔ زۀ د دے ایوان په وساطت دا خبره کوم چه په دے کښې زمونږ سره پوره پوره تعاون اوشی ځکه که دغه سلسله هم دغه شان جاری وی نو د بونیر امن به ډیر لوئے په خطره کښې شی۔ ډیره ډیره مهربانی۔ والسلام۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ډیره مننه، ډیره شکریه۔ اب سردار اورنگزیب صاحب، آنریبل ایم پی اے۔

سردار اورنگزیب نلوٹھہ: جناب سپیکر صاحب! میں آپ کا مشکور ہوں کہ آپ نے مجھے امن وامان کے اہم مسئلے پر بات کرنے کا موقع فراہم کیا۔ آج کے اس مبارک دن کے موقع پر میں تمام سیاسی جماعتوں کے قائدین و کارکنان کو، پورے ملک کے عوام کو مبارکباد پیش کرتا ہوں۔ آج اس امن وامان کے حوالے سے میں خصوصاً صوبہ سرحد کے عوام کو مبارکباد پیش کرتا ہوں کہ اس ملک کا بڑا دہشتگرد جس نے خصوصاً صوبہ سرحد میں آگ لگائی تھی، اللہ تعالیٰ کے فضل وکرم سے کل کے بابرکت دن کی برکت سے اللہ تعالیٰ نے اس صوبے کے عوام اور پورے ملک کے عوام کی اس سے جان چھڑائی۔ میں سمجھتا ہوں کہ اللہ کے فضل وکرم سے اب صوبے کے حالات امن وامان کی طرف دن بدن تیزی سے بہتر ہونے شروع ہو جائیں گے۔ میں سمجھتا ہوں کہ امیر حیدر خان ہوتی اور ان کی حکومت اور Coalition partners کی حکومت کو جو دشواریاں امن وامان کے حوالے سے پیش آئیں اور میں صوبائی حکومت کو مبارکباد پیش کرتا ہوں کہ اس صوبے کی بگڑی ہوئی امن وامان کی صورتحال پر قابو پانے کی کوشش کی گئی۔ جناب سپیکر صاحب! ہمیں صوبہ سرحد کے عوام نے اسمبلی میں ایسی اچھی پالیسیاں مرتب کرنے کی لئے بھیجا ہے جن سے ان کی مشکلات اور ان کی تکالیف کا ازالہ ہو۔ آج میں سمجھتا ہوں کہ کوئی بھی مسلمان لا الہ الااللہ محمد رسول اللہ پڑھنے والا اور نبی پاک صلی اللہ علیہ وسلم کا امتی کبھی دہشتگرد نہیں ہو سکتا۔ نہ وہ اپنے مسلمان بھائیوں کا قتل عام کر سکتا ہے، نہ ہی ان کی عزتیں لوٹ سکتا ہے، پھر اس صوبے میں جو حالات پیدا کئے گئے ہیں، یہ کیوں پیدا ہوئے؟ ان پر قابو پانا صوبائی حکومت کی اور ہم سب ممبران کی بڑی ذمہ داری ہے۔ میں آپ سے یہ درخواست کرتا ہوں کہ ممبران پر مشتمل، وزراء پر مشتمل

ایک کمیٹی تشکیل دی جائے جو سوات اور تمام اضلاع میں جا کر اپنے بھائیوں سے، مسلمان بھائیوں سے اس صوبے میں بسنے والے غیر تمند پاکستانیوں سے امن وامان کی بحالی پر بات کرے۔ میں سمجھتا ہوں کہ انشاء اللہ ہمارے امن وامان کے حوالے سے بہت سے معاملات بات چیت سے حل ہو جائیں گے۔ جہاں طاقت کا استعمال ہو، وہاں طاقت کا استعمال کرنا چاہیئے۔ جناب سپیکر صاحب! ہمیں اس بد معاش اور اس دہشتگرد کی سابقہ پالیسوں پر سوچنا چاہیئے۔ اگر سابقہ دور میں آرمی کو استعمال کیا گیا تو اس کے نتائج کیا نکلے؟ اب ہمیں اپنی پالیسیاں تبدیل کرنی ہوں گی اور میں سمجھتا ہوں کہ اللہ کے فضل وکرم سے اس صوبے میں مشرف کے جانے کے بعد وہ حالات انشاء اللہ نہیں رہیں گے، خود بخود امن قائم ہو گا، کوئی دہشتگردی کا واقعہ انشاء اللہ آج کے بعد، میرا ایمان یہ گواہی دیتا ہے کہ انشاء اللہ اس صوبے میں نہیں ہو گا۔ بہر حال پھر بھی میں صوبائی حکومت اور آپ سے درخواست کرتا ہوں کہ مذاکرات کا عمل نہ چھوڑا جائے اور خصوصاً پاکستان آرمی کو آپریشن میں استعمال کرنے کی بجائے ہمیں اپنی فورسز پر اعتماد کرنا ہو گا، ان کو مضبوط کیا جائے۔ اگر آپریشن کی مزید ضرورت پڑتی ہے تو اپنی فورسز کے ذریعے کروایا جائے۔ میری یہی گزارشات تھیں، میں سپیکر صاحب، آپ کا مشکور ہوں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: بہت بہت شکریہ۔ جناب ملک قاسم خان خٹک، آنریبل ایم پی اے۔

ملک قاسم خان خٹک: شکریه، جناب سپیکر۔ ټولو نه مخکښې زهٔ ټول هاؤس ته او زمونږ مرکزی قائدین ته مبارکباد ورکوم چه په کومه ورځ باندے، دا پرون ورځ چه د مشرف نه دا ملک خلاص شو، هغوی الوداع اووئیل صدارت ته، هغے نه بعد جناب والا، چه نن په امن و امان باندے خبرے کیږی، که چرته زهٔ په کرک اونغږیدم، بیا به ډیر زهٔ خپلے حلقے سره زیاتے اوکړم۔ جناب والا، په ټوله صوبه کښې امن و امان بالخصوص زمونږ په ضلع کښے داسے حال دے چه اوس دوه هفتے مخکښې د شپے یوه بجه درے ګاډی راغلل او یو کور باندے ننوتل۔ اول ئے ګرنیډ خلاص کړل، ډزے ئے پرے اوکړلے۔ هغے نه بعد د کور ټول خلق ئے یرغمال کړل او دوه کسان، د ګلاب حاجی کور دے، او دوه کسان ئے ژوندی ترینه بوتلل۔ د شپے یوه بجه، نو هغے نه بعد دل کرک ضلع ټول خلق خوف و هراس کښې متبلا دی۔ ننه پورے، د هغے اوسه پورے پته نشته۔ مونږه وزیر اعلیٰ صاحب ته خواست کړے دے چه زمونږ وفد

ته ټائم ورکړی، انشاءالله هغوی به مونږ ته ټائم راکوی او زمونږ هر ایجنسئ سره رابطے دی او اوسه پورے هیڅ قسم ته کارروائی نه ده شوے۔ جناب والا، په دے باندے زمونږ قام باقاعده میټنګ کړے دے، ټولے ضلعے، چه زمونږ د پولیس نه خو بس اوس نه کیږی خبره، ایف سی نه خبره نه کیږی ځکه چه مونږه پخپله وینو کنه چه کوم حالات په باجوړ کښ دی، په سوات کښ دی، په دیر کښ دی، بونیر کښ دی، لکه څه رنګ چه جناب پیر صاحب، خالد رضا زکوړی اووائیل، لکی مروت دغسے حال دے، ټول سرکاری ایجنسئ فیل دی۔ اوس مونږ دا فیصله کړے ده چه زمونږ قوم د خپل فورس جوړ کړی د خپل تحفظ د پاره۔ په هغے جلسه کښ ما باقاعده ریکویسټ کړے وو ایس پی صاحب ته او آئی جی پی صاحب ته چه جناب والا، تاسو نه خو اوس څه نه کیږی، مونږ به خپل ځانونه پخپله ساتو۔ جناب والا، مونږ ته د وی ډی رائفل ملاؤ شی، تاسو ته پته ده چه مونږ د حساس علاقے په باؤنډرئ باندے پراته یو، یو طرف ته پنجاب، هغه کوم دشمن پرست خلق چه دی نو په هغه ځائے کښ دی او بل طرف ته ایف آر بنوں دے او بل طرف ته د کرم ایجنسئ او د میران شاه علاقه مونږ سره ده۔ جناب والا، اوس هنګو کښ زمونږ ورونړه چه کوم په تکلیف کښ دی، زما اتهاره بیس کسان چه د کله نه د هنګو آپریشن شروع دے، هغے کښ لاړ دی، اوسه پورے پته نشته چه هغے کښ، د یو نامه نصرالله اے ایس آئی چه هغه زمونږ د خپل کلی دے، نو که چرے زمونږ دا حال وی، تاسو پخپله سوچ ورته کوئ، د حکومت رټ ختم دے لکه څه رنګه چه زکوړی صاحب اووئیل چه داسے کمیټی جوړه شی او دغه خلق د خپل تحفظ د پاره لکه څه رنګه، شکر الحمدلله، وزیر اعلیٰ صاحب پکار وه چه نن، اوس وے ځکه چه دا ډیر اهم بحث دے، په دے باندے صوبه کښ چه کوم امن و امان دے، د وزیر اعلیٰ صاحب موجود ګی ډیره ضروری وه ځکه چه دا خبرے بغیر د مشاورت نه نه کیږی۔ پکار دا وه چه د دے هاؤس ټول اراکین، معزز ممبران اسمبلی طلب شوے وے، هغوئ سره میټنګ شوے وے چه مونږ ته دا کومه مسئله چه جوړه ده، دے ته مونږ له څه کول پکار دی؟ خو عملی، داسے نه لکه څه رنګه چه زکوړی صاحب اووئیل چه کمیټی جوړه شی او بیا څه نه کیږی نو جناب

والا شان، مونږ دا خواست کوؤ چه مونږ ډیر حساس یو او ډیر تیار یو، مونږ خپل حفاظت پخپله پیژنو خو که چرے مونږ ته سرکار خپل مدد راکړی رائفلو په شکل کښې۔ اوس تاسو پخپله سوچ ورته کوئ چه مونږ له لائسنس اسلحه، هسے جناب والا، بالکل په نامه لائسنس شته، زهٔ چه کور نه ټوپک اوباسم، پولیس نه مفرور پاتے دے، پولیس نه Terrorist پاتے دے، جناب والا، چه زهٔ کور نه اوځم، هس طمانچه ده په جار ئے راوینیسی، وائی13AO, 16AO، د دنیا پرچے په ما رجسټر کیږی۔ زهٔ پخپله غیر مسلح ګرځم او زمونږ پولیس لګیا دے مونږ غیر مسلح کوی۔ زهٔ خپل ځان حفاظت پخپله په دے حال کښې نه شم کولے۔ بیا تهٔ پخپله سوچ ورته کوه چه زمونږ اسلحه نه وی، زهٔ د خپل ځان حفاظت چرته کولے شم؟ نو لږ شان د پولیس په خپله رویه کښې نرمی راولی او مونږ ته د خا مخا، دا څه مے چه اوئیل، د دے انتظام اوشی۔ ډیره مهربانی، ډیره شکریه۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ډیره مننه۔ اوس سکندر خان شیرپاؤ صاحب ته خواست دے۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: بسم الله الرحمان الرحیم۔ ستاسو ډیر مشکور یمه جناب سپیکر، چه ما له مو موقع راکړه، په یو اهم موضوع باندے۔ یو داسے موضوع باندے چه که دے وخت سره د دے صوبے ټولو کښې اهم مسئله زهٔ ورته اویمه نو زما خیال دے چه په دغه کښې به زهٔ غلط نه یمه ځکه چه هغه هر څوک دی، که هغه د اسمبلئ ممبران دی او که هغه یو غریب مزدور، یو کسان دے، نن هغه ته د خپل د حفاظت یو داسے کمے محسوس کیږی چه غیر محفوظ ځان ورته ښکاری۔ جناب سپیکر، زهٔ د خپل تقریر شروع کولو نه مخکښې دا یوه خبره افسوس سره وئیل غواړمه چه دومره اهم موضوع په دے هاؤس کښې ډسکس کیږی لګیا دے خو نن زهٔ افسوس سره وایم چه جناب وزیر اعلیٰ صاحب دلته هاؤس کښې موجود نه دے، پکار دا وه چه دا چونکه د دے صوبے یو اهمه مسئله ده چه نن هغوی موجود وے۔ د هغے سره به پخپله د دے مسئلے ته یو بل اهمیت ملاؤ شوے وو۔ دغه سره سره زهٔ په دے باندے هم افسوس کوم جناب سپیکر، چه نن دلته کښې هوم سیکرټری صاحب هم نشته۔ پکار دا ده چه دومره اهم شے ډسکس کیږی چه هغوی دلته په هاؤس کښې موجود وے۔ جناب

سپیکر! زمونږ د صوبے دا کوم حالات چه دی، د تیر څو کالو راسے خرابیږی لګیا دی او ورځ تر ورځه خرابیږی۔ نه پکښ داسے څه دغه مونږ ته ښکاری چه یره ښه کیدو طرف ته به لاړ شی، هغه څنګه چه د انګریزئ یو مثال دے چه Like, at the end of the tunnel هغه نه ښکاری لګیا دے۔ جناب سپیکر، دا مسئله دومره عام یا Simple هم نه ده چه صرف په کرائمز یا یو دغه باندے ئے مونږ واچوؤ، د دے مختلف Aspects دی۔ یو Aspect ئے د Militancy آو د Terrorism دے، بل Aspect ئے د Normal crime چه څه ته وائی، د هغے دے۔ جناب سپیکر! د دواړو د پاره اپروچ به بدل پکار وی، د دواړو حل به په بدل طریقے سره راوځی۔ د دواړو مسئلو طرف ته د هغے حل کولو د پاره بیل اپروچ به استعمالول وی۔ جناب سپیکر! ځو پورے چه د Militancy خبره ده، موجوده حکومت چه کله الیکشن نه پس په وجود کښ راغے نو د وفاقی حکومت هم او د صوبائی حکومت هم دا دعویٰ وه چه دا مسئلے به د مذاکراتو په ذریعه، د خبرو په ذریعه حل کوؤ او یو پولیټکل اپروچ به دے مسئلو د پاره مونږ اپناؤو خو جناب سپیکر، نن مونږه په دے خبره باندے نه پوهیږو چه که سوات کښ ګورو، که باجوړ کښ ګورو نو آپریشنز روان دی۔ یو طرف ته دا بیان هم راځی چه یره مونږ به د خبرو په ذریعه حل کوؤ او بل طرف ته دا بیانات هم مونږ ګورو چه نه "*آپریشن جاری رہے گا*"۔ مونږه په دے باندے نه پوهیږو چه کومه پالیسی دے وخت کښ دے حکومت Adopt کړے ده؟ کومه پالیسئ باندے دوئ لګیا دی؟ جناب سپیکر! ورسره ورسره دا هم ډیر د افسوس خبره ده چه نن د دے ملک په تاریخ کښ په ړومبی ځل ایف 16 جهازونه استعمال شول په باجوړ کښ او هغوی Carpet bombing هلته کښ اوکړو۔ د هغه ځائے خلق د لکهونو په تعداد کښ راغلی دی او دلته کښ Displaced ګرځی۔ پرون په دے هاؤس کښ خبره شوے وه چه د هغوی د پاره کیمپونه جوړ شوی دی۔ بالکل جناب سپیکر، کیمپونه جوړ شوی دی خو جناب سپیکر، هغه کیمپونو ته هغه خلق نه تلل غواړی۔ ولے نه تلل غواړی؟ ځکه چه هغه کیمپونو کښ Facilities نشته۔ هغه کیمپیونو کښ هغوی ته دوائی نه ملاویږی، هغه کیمپونو کښ هغوی ته خوراک نه ملاویږی، هغے کیمپونو کښ هغوی

ته Shelter نه ملاؤیړی نو هغه خلق د ولے لاړ شی او هغه کیمپونو کښ د دیره شی؟ جناب سپیکر، دغه شان زما خو به دا تجویز وی صوبائی حکومت ته هم او د دوئ په وساطت مرکزی حکومت ته چه Militancy دا کوم Aspect چه راغلے دے، دا بغیر د پولیټکل اپروچ نه د دے حل نه شی راوتے۔ دے د پاره دا ضروری ده چه خبرے اترے اوشی خو دا ده چه ټول Stake holders چه دی، د هغے علاقے څومره چه پولیټکل پارټیز دی، د هغے علاقے څومره چه Influential خلق دی، د هغے علاقے چه څومره Religious leadership دے، د هغے علاقے سول سوسائټی چه ده، هغه ټول On board چه واغستلے شی نو هغه معاهدے، هغے خبرے به بیا پائیدارے وی۔ نن که مونږ د سوات په معاهده کښ دا ګورو چه هغے کښ هغه شان، د هغے هغه Desired results اونوتلو، نو د هغے یو بنیادی وجه دا وه چه هغه شان هغه خلق On board نه وو اغستلے شوے او د هغے نتیجه ستاسو مخامخ ده جناب سپیکر۔ دغه شان جناب سپیکر، د تیر څو کالو راسے د Crimes rate هم زمونږ صوبے کښ زیات شوے دے۔ نن سبا خو زما خیال دے په ټول کال کښ په ګتو به سړے شمارلے شی چه داسے ورځ به چرته راغلے وی چه اخبار کښ نه وی راغلے چه یره څه کرائمز نه دی شوے۔ جناب سپیکر! که مونږه Murders ګورو، کهDacoity ګورو، که Kidnapping ګورو، که Kidnapping for ransom ګورو، که دغه شان Street crimes ګورو، ورځ تر ورځه په هغے کښ یو Increase کیږی لګیا دے او د هغے طرف ته د هغے د حل د پاره، د هغے د روک تهام د پاره مونږ ته څه داسے Measures نه ښکاری، نه څه داسے پالیسی ښکاری چه Adopt کیږی لګیا ده چه دا رکاؤ کړے شی۔ جناب سپیکر! پرون په دے هاؤس کښ یو قرارداد پاس شوے دے او ما هغه وخت سره هم دا خبره اوکړه چه آیا دا د حکومت بنیادی فنکشنز کښ نه راځی چه هغوی د کرائمز روک تهام د پاره، د منشیاتو د Sale prohibit کولو د پاره اقدامات اوچت کړی؟ خو دا د دے شی یو جناب سپیکر، ثبوت دے۔ که نن د اسمبلئ نه قرارداد پاس کیږی او صوبائی حکومت ته دا خواست کیږی او متفقه پاس کیږی جناب سپیکر، چه یره صوبائی حکومت د د منشتیاتو خلاف کارروائی اوکړی نو زما خیال دے، دے نه دا

پته لګی چه هغه پالیسیز، هغه Determination، هغه کوم Administrative steps چه اوچتول دی، د هغے Lacking موجود دے جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، روزانه د Kidnapping خو دا حال شوے دے او زهٔ ډیر افسوس سره وایمه چه زمونږه ټوله صوبه په هغه شی کښ داسے بدنامه شوے ده چه که ګورو نو چه څوک هم اغواء شی، که هغه پنجاب کښ هم اوشی نو اکثر به دلته کښ ناست ممبران صاحبانو ته ټیلفونونه راځی د هغے ځائے د خلقو چه یره زمونږ یو کس اغواء شوے دے، ته اوګوره که هلته کښ چرته راغلے وی۔ دغه شان یو عجیبه مذاق جوړ شوے دے چه زمونږ دے صوبے باندے یو داسے الزام غوندے لګی چه که هغه سندهـ کښ هم څوک اغواء شی، که هغه پنجاب کښ څوک اغواء شی او که اسلام آباد کښ اغواء شی نو وائی به چه دا به رارسیدلی وی او صوبه سرحد کښ به موجود وی۔ جناب سپیکر، ورسره ورسره کوم چه بل Trend دے چه بیا هغے باندے څه کارروائی هم نه کیږی د حکومت د طرفه، په دے لحاظ سره چه څوک هم دا نه غواړی چه پکښ د پولیس Involve کړے شی ځکه چه وائی که پولیس پکښ Involve کړو نو بیا به د دے مسئلے حل نه رااوځی او څه که مونږ پولیس ته لاړ هم شو نو د پولیس د طرفه هم داسے رویه وی چه هغوی هغه کس په دے خبره باندے اویروی چه ایف آئی آر مه کټ کوه او که د دے حل ته څه بل طریقے سره ته رااوباسے نو هغه به زیات ښه وی۔ جناب سپیکر، دا ټول Attitude چه دے، دا پخپله دے شی ته یو سپورټ ورکوی چه دا د زیات شی۔ نن زهٔ ډیر افسوس سره وایمه چه دلته کښ خو د Kidnapping for ransom نه یو مکمل کارروبار جوړ شوے دے، دلته کښ اوس هم داسے خلق موجود دی که هغه د پیښور په ګرد و نواح کښ اوګورئ، نور ځایونو کښ اوګورئ چه د هغوی کارروبار هم دا دے۔ هغوی مشهور دی د پاره د دے چه که څوک اغواء شی نو هغوی سره به رابطه اوکړی او هغه به ورله کس پیدا کوی او څه لین دین او څه چه کول وی، هغه به کوی او د هغے به یو حل رااوباسی۔ جناب سپیکر، که دے ټول دغه باندے مونږ اوګورو نو په دے کښ هغه Lack of policy, lack of determination, ورسره ورسره ټهیک ده وی، بعض وخت کښ Political

compulsion هم وی، زۀ د یو سیاسی ورکر په طور په دے باندے پوهیږمه چه بعض وخت کښې وی Political compulsion، بعضے Appointments کښې کول وی دغه خو جناب سپیکر، چه ټول Appointments په سیاسی بنیادونو باندے شروع شی نو بیا به د هغے څه حل رااوځی؟ چه میرټ باندے نه کیږی، چه هغه شان هغه لحاظ سره نه کیږی چه کوم آفسر په کوم ځائے کښې Effective وی خو په دے بنیاد باندے کیږی چه دلته کښې به څوک زمونږ د پارټئ د پاره ښه وی نو جناب سپیکر، بیا به د هغے څه حل رااوځی؟ او څه به کیږی جناب سپیکر؟ دغه شان جناب سپیکر، که مونږ صرف دا اووایو چه دے ته یو پولیټکل اپروچ سره یا د ایډمنسټریټیو طریقے سره نه کوؤ نو هغه واحد د کرائمز حل نه دے۔ هغے سره که مونږ د اکنامک حالاتو ته هم سوچ کړو ځکه چه د اکانومی حالات خرابیږی نو هغه وخت دا یو Known شے دے چه کرائمز ریټ ورسره زیاتیږی۔ د تیر څو میاشتو نه چه کوم اکنامک کرائسز هم جوړ دے نو هغه هم پخپله دے شی له اوس طول ورکوی او دا زیاتیږی لګیا دی او دا سے حد ته رسی لګیا دی جناب سپیکر، که اوس مونږ دے د پاره اقدامات اوچت نه کړل، که اوس مونږه دے د پاره پالیسیز جوړ نه کړل، که اوس مونږ دے د پاره Administrative steps اوچت نه کړل نو جناب سپیکر، داسے حد ته به اورسی چه بیا به کنټرول کیدے نه شی۔ جناب سپیکر! اوس خو ښه ده، د صوبائی حکومت سره هم او د مرکزی حکومت سره هغه بهانه هم ختمه شوه چه اوسه پورے کوم د درے څلور میاشتو راسے دوئ استعمالوله چه یره یو کس موجود دے او هغه زمونږ په لار کښې حائل دے۔ جناب سپیکر، اوس به زمونږ دا طمع وی، اوس به زمونږ دا توقع وی چه صوبائی حکومت هم او مرکزی حکومت هم د خلقو او د عوامو مسئلو طرف ته توجه ورکوی۔ په هغے کښې ړومبے به امن و امان طرف ته ورکوی، ورسره اکنامک کلچر طرف ته به ورکوی، د ګرانئ طرف ته به ورکوی، د Un-employment طرف ته به ورکوی او خپل هغه وعدے به سر ته رسوی چه کوم دوئ په الیکشن کښې کړے وے، چه کومو وعدو باندے دوئ ووټ اغستے وو۔ جناب سپیکر، که دا ئے اونکړے شو نو دا به دے ټول سستم د پاره ښه نه وی ځکه چه د خلقو اعتماد په دے سستم

باندے به بیا ختم شی، هغه به ټولو پولیټکل پارټو د پاره ښه نه وی۔ زهٔ آخر کښې ستاسو یو ځل بیا مشکور یم، جناب سپیکر۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر:</u> ډیره مننه۔ حاجی هدایت الله خان، منسټر لائیو سټاک۔

<u>جناب ہدایت اللہ خان(وزیر برائے تحفظ حیوانات):</u> شکریه جناب سپیکر صاحب، چه تاسو مونږ له وخت راکړو۔ زهٔ ستاسو توجه دے خبرے ته راګرځومه چه څنګه سکندر خان شیرپاؤ صاحب د کیمپونو خبره اوکړه، پرون مے چهټی په دے وجه اغستے وه چه زهٔ پخپله لاړمه هغه علاقے ته او دغه تقریباً زیات کیمپونه زما په حلقه کښې دی چه کوم د باجوړ نه خلق راغی او هغوی متاثرین دی نو هغه خلق، تاسو یقین اوکړئ چه ما اولیدل نو په ډیر زیات خراب حالت کښې دی او ما د دے په باره کښې مخکښې هم ریکویسټ کړے وو د سپیکر صاحب په ذریعه باندے خو په هغے باندے چه هغوی کوم هدایت جاری کړی وو هیلتھ منسټرئ ته نو هغوی، سیکرټری صاحب په هغے باندے څه عملدرآمد ډیر زیات نه دے کړے نو زهٔ ستاسو په خدمت کښې دا عرض کومه چه دا کوم کیمپونه جوړ شوی دی، ستره کیمپونه جی نو دا تقریباً د دو ډهائی لاکھ کسانو ځائے دے جی۔ په دے کښې خو اکثر خلق په کورونو کښې دی او باقی دا کیمپونه هم په هسپتالونو یا په سکولونو کښې یا په کالجونو کښې دی نو د هغے په وجه باندے د هغوی هغه لیټرینونه هم بند شوی دی او د اوبو انتظام هم صحیح نه دے جی۔ د دے نه علاوه دلته کښې د یو فائر بریګیډ مونږ ریکویسټ کړے وو چه یو اضافی فائر بریګیډ مونږ ته د را کړے شی چه هغه اوبه هغه ټینکو ته رسوی ځکه دومره اوبه موټر نه شی خیژولے، نو هغے باندے هم هغه یو فائر بریګیډ چه راغلے وو، دوئم نه دے راغلے۔ نو تاسو جی په دے باندے دا دغه اوکړئ او بله خبره جی دا ده چه په دے کښې کوم خلق دلته اوسیږی نو هغوی ډیر زیات په یو بیمارئ کښې مبتلا دی چه تقریباً ستر پرسنټ خلق ما داسے اولیدل چه په هغے کښې ماشومان او زنانه په Diarrhea وغیره داسے څه بیمارئ کښې مبتلا دی او هیضه هم هلته کښې ډیره په تیزئ سره پهیلاویږی نو د هغے یوه غټه وجه چه ده، هغه دا ده چه د هغے د صفائی انتظام نشته دے بلکه بالکل د نشت برابر دے۔ زهٔ دا وایمه چه د هغے د پاره کوم ټیکنیکل

سوپیرز چه دی هغه چه په مالاکنډ کښ وی یا په سوات کښ وی یا په پیښور کښ وی، د دے ځائے نه د هم د انسانی همدردئ تحت څه سوپیران مونږ اولیږو هلته چه هغه کیمپونو کښ چه کوم کالجونو یا د سکولونو کوم لیټرینونه دی چه هغه بند شوی دی چه هغه کهلاؤ کړی او هغه د استعمال قابل شی او بل ستاسو په نوټس کښ جی دا خبره راولم چه هلته کښ د ډاکټرانو هم ډیر زیات کمے دے۔ زمونږ د پیښور نه یو څو کسان دوئ لیږلی دی خو هغه بالکل کم دی او په هر یو کیمپ کښ تقریباً د ډاکټرانو د وجے نه ډیر زیات مسائل دی او دوائیانے بالکل د نشت برابر دی۔ خلقو د "*اپنی مدد آپ*" تحت دوائیانے هم راټولے کړی دی۔ روټئ او خوراک خو خلق ورکوی او په هغے کښ خلق حصه اخلی او تاسو یقین اوکړئ چه هغه خلقو، د دیر عوامو ته زۀ خراج تحسین پیش کومه چه هغوی د انصار مدینه هغه یاد تازه کړو چه کوم په هغه وخت کښ د هغه مهاجرو سره شوے وو۔ بهرحال هغه په خپل ځائے خو زۀ دا وایمه چه د دے د پاره د د Proper کیمپونو غم اوشی د وخت نه ځکه چه دا حالات ورځ تر ورځه خرابیږی۔ یو هغه خبره ده چه هسپتالونه زمونږ چه دی نو هغه هغوی نیولی دی، دوئم سکولونه او کالجونه چونکه اوس چهټیانے ختم شوی دی او سکولونه د هغے نه متاثر کیږی، د ماشومانو سبق قضیٰ کیږی نو په دے وجه د د ټینټونو غم اوشی چه هغه Proper کیمپونه جوړ شی او په هغه کیمپونو کښ هغوی ته هغه سهولیات میسر شی کوم چه د هغوی د پاره ضرورت دے۔ د روزمره ژوند د پاره خوراک او د روټئ څه مسئله نشته دے خو صرف هغوی ته د ځائے مسئله ده او هغوی ته د ډاکټرانو او د دوائیانو مسئله ده۔ جناب سپیکر صاحب، بله هلته کښ هغوی ته د سیکورټی هم مسئله ده۔ د سیکورټی مسئله دا ده چه کوم خلق راغلی دی نو هغه په هغه وخت کښ چا نه دی چیک کړی چه په دیکښ کوم قسم خلق راغلی دی؟ نو په دے وجه باندے جناب آئی جی پی صاحب ته ما دوه پیرے ریکویسټ کړے دے چه مونږ له تاسو کم از کم دوه پلاټون چه یو د ایف سی او یو د ریزرو پولیس راکړئ نو مونږ به په هغه طریقه د هغے نشاندهی اوکړو، هغوی نه به معلومات کیږی خو بهرحال آئی جی پی صاحب خو ما ته دا وئیلی وو چه یو د ریزرو پولیس پلاټون مونږ درلیږلے دے او هغه

دررسیدلے دے خو هغه چه ما معلومات اوکړل زمونږ د ډی پی او صاحب نه او د ډی آئی جی صاحب نه نو هغه خبره صحیح نه وه چه هغه ما ته کومه خبره شوے وه۔ هلته کښې تر اوسه پورے یو پلاټون هم نه دے لیږلے شوے او د ایف سی د پاره هغوی ریکویسټ کړے وو، هغه هم تر اوسه پورے لا نه دے رسیدلے نو زۀ دا یوه خبره کومه چه د هغے د پاره د، دغه چونکه حساس علاقه ده، په دغه کښې دا سے خلق هم راتلے شی، نن سبا هلته د هغوی ځائے هلته روک دے، د پاس نه شیلنګ هم کیږی، هغه په مختلفو شکلونو کښې راتلے شی نو مونږ دا وایو چه هغه خلقو له د د دغه انتظام اوشی چه کوم په بره روډ باندے راځی چه کم از کم هلته کښې د هغے چیک اپ کیږی چه دوئ د ځان سره اسلحه راوړی، په دے کښې ښه خلق راځی او که په دیکښې Criminal خلق راځی؟ نو زۀ ستاسو په وساطت باندے، آئی جی پی صاحب هم دلته ناست دے، هغوئ ته دا ریکوئسټ کومه چه هغوئ د دا مهربانی اوکړی او دا چه کومه دوئ وعده کړے وه، یو هغه د ایف آر پی پلاټون چه کوم دوئ وئیلے وو، هغه نه دے رسیدلے، هغوی د جی د هغے غم اوکړی او چه کوم دوئ د ایف سی د پاره وئیلی وو، هغه د هم مهربانی اوکړے شی چه راشی چه زمونږ دغه مسائل چه په دغه ځائے کښې کوم دی چه هغه حل شی او بل د هیلتھ منسټر صاحب دا دے ناست دے، زۀ ستاسو په وساطت د دوئ نه هم دا ریکوئسټ کومه چه حقیقت دے چه تاسو، زۀ خو ډیر دغه حالات کښې لاړم، خلقو راته اووئیل چه سیکورټی رسک دے، دا دی، هغه دی خو ما اووئیل چه یره د پختو ملک دے که اوس په دے حالاتو کښې زۀ د دے خلقو تپوس اونکړمه نو زما د پاره ډیره ګرانه خبره ده بیا چه زۀ هغه علاقے ته ځمه۔ نو په هغه وجه باندے زۀ پرون لاړمه او باقاعده په ټولو کیمپونو باندے اوګرزیدمه او د دولس کیمپونو وزټ ما اوکړو جی تر ماښامه پورے او د شپے ناوخته باره بجے زۀ د هغے ځائے نه راغلم۔ *(تالیاں)* په دے وجه باندے چه ما اووئیل چه د پښتو ملک دے سبا څوک دا او نه وائی چه یره حاجی صاحب د ویرے نه دلته کښې را نغلو، نو هغه خپل رسک مو واغستو، انتظامیے هم ما ته اجازت نه کولو او بل چا هم نه کولو خو هم دغه شان وراغلم او هغه زمونږه ډی سی او صاحب او ډی پی او

صاحب ته دا ټول معلومات شته چه څنګه حالات دی هلته او څوک یو قدم هم زمونږ په شان یا منسټر یا ایم پی اے یا ایم این اے هلته نه شی اغستے خو بهرحال مونږ د هغه خپل وس مطابق کوشش اوکړو۔ ما د هغے د پاره خپل طرف نه بسکټ او شوده ماشومانو د پاره یوړل او هغه مو پرے تقسیم کړل یو دوه ګاډی خو په هغے څه کار نه کیږی۔ ما یوړل، یو ورځ مے تقسیم کړل خو د هغے د پاره څه Proper program پکار دے جی چه هغه باقاعده د دوایانو او د ډاکټرانو مسئله د هغوی حل شی او د صفائی مسئله جی ځکه چه ډیره په تیزئ سره بیماری خوریږی کیږی او خدانخواسته که دا حالات دغه شان جاری وی نو مونږ به د هغے ځائے نه جنازے بیا اوچتوؤ او بیا به خلق په مونږ باندے بد وائی چه یره د دے حکومت د وجے نه یا د دوئ د نااهلئ د وجے نه یا د بدانتظامئ د وجے نه دا واقعات پیش شول۔ بله خبره جی، آخری خبره دا کومه چه ستاسو په وساطت باندے مهربانی د اوشی، دا Proper کیمپونه د جوړ شی چه د هغے د ټینټونو غم اوشی۔ مونږه د آټه هزار ټینټونو Calculation کړے دے ، حساب کتاب مو لګولے دے ، آټه هزار ټینټونه پکار دی۔ د یو خاندان د پاره چه په هغے کښ لس اته کسان وی چه دوه ټینټونه کم از کم ورکړے شی چه هغوی په هغه ځائے باندے خپل پخلے هم کوی ځکه چه ټول چوبیس ګهنټے سحر او ماښام هغوی له مونږه وریژے پخوؤ، د روټئ غم نه کیږی۔ چه وریژے ورله پخوؤ نو خا مخا سحر ماښام وریژے خوری او هغه هم مطلب دا دے چه کله ښه وی او کله خرابے نو خا مخا به د هغوئ خیټه هم خرابیږی او د هغے مطلب دا دے چه مسئلے به، بیماریانے به هم جوړیږی او چه د پاسه پرے د صفائی د ناقص انتظام خبره راشی نو هغه به دغه کیږی او کوم زخمیان چه شی په شیلنګ کښ، هغه هلته کښ راشی، ماشومان، زنانه نو د هغے د پاره د ایمبولنسو ډیر زیات ضرورت دے چه په منډا هسپتال کښ کم از کم At a time پینځه ایمبولنسے ولاړے وی چه هغه فرسټ ایډ نه روستو مختلف هسپتالونو ته، هغه بټخیلے ته یا پیښور ته یا تیمرګرے ته منتقل کوی ځکه چه هلته کښ دومره ګنجائش هم نشته او نه دومره ډاکټران تکړه شته دے چه هغوی د د هغوی علاج اوکړی، نو دا مهربانی د اوشی۔ دا کومه خبره یا مونږه چه

کوم د هغے هغه تجویز چه تاسو ته پیش کړو، په هغے باندے تاسو فوری غور اوکړئ ځکه چه دا کمیټئ ته حواله کول یا د دومره اوږدے قیصے ضرورت نشته دے دے ته، دا ډیر ارجنټ خبره ده او ارجنټ په دے باندے اقدامات غواړی۔ ډیره مهربانی، شکریه۔

جناب ډپټی سپیکر: ارشد عبدالله۔

بیرسټر ارشد عبدالله (وزیر قانون): مهربانی سر۔ د ټولو نه مخکښ خو زهٔ، هدایت خان زمونږ مشر ورور دے، دوئ ته دا گزارش کومه چه دوئ خو He is a Cabinet Member، فیصلے خو به ټولے دوئ کوی، د هغے Implementation به هم دوئ کوی او چه کوم منسټر صاحب، خو که بله منسټری، For example the Health related problems دی، نو دوئ له پکار دا دی چه ډائریکټ ظاهر شاه خان سره خبره کوی، بل Concerned Minister سره خبره کوی۔ د سی ایم صاحب د ډیپارټمنټ چه تر کوم ځائے پورے خبره ده نو هغه سی ایم صاحب سره خبره پکار ده او کوم ځائے کښ چه دوئ محسوسوی چه سینیئر گورنمنټ آفیشلز دی او هغه شان د دوئ Directives properly نه Implement کیږی یا د دوئ خبره صحیح طریقے سره نه منلے کیږی نو هغه پکار ده چه دوئ سی ایم صاحب سره ملاؤ شی او دلته په فورم باندے خو د کیبینټ ممبر له لکه داسے ډیر ذمه واری سره خبرے کول پکار دی او دے نه علاوه د سی ایم صاحب په حوالے سره دومره گزارش کومه جی چه بالکل دا یو Important discussion دے، Important topic دے خو چونکه د هغوی مصروفیات هم دغه حوالے سره، د لاء اینډ آرډر حوالے سره ډیرے اهمے فیصلے کول دی او ډیر Administrative decisions اغستل دی، نو هغوی به انشاءالله راځی، Probably Thursday باندے به هغوی راځی او د دغه نه علاوه سی ایس صاحب هم خپل څه ضروری مصروفیاتو کښ گهیر دے خو چونکه لاء اینډ آرډر حوالے سره، نو آئی جی صاحب ناست دے او هوم سیکرټری صاحب یا د هغوی نمائندگان ناست دی ټول دلته، مونږ Represent کوؤ دے وخت کښ سی ایم صاحب، نو انشاءالله دا ټولے خبرے چه کوم دی، دا به هغوی ته ډیر تفصیلی طور

باندے ټولے رسی۔ باقی لاء اینډ آرډر حوالے سره زما ټولو ورونړو، خوئیندو ته دا پته ده چه دا We are not against some ordinary streets criminals، دا چه کوم دے یو سوچ یو Ideology ده، د هغے مقابله ده۔ دلته International forces دی، هغه At work دی۔ دلته داسے به اوواېو چه د سپر پاؤر او نور د Extremism جنګ روان دے نو دے حوالے سره دا خبره کول چه دا Immediately law and order situation به قابو شی، نه، دا غلطے خبرے دی۔ دلته چه کوم دے، دا صرف د صوبائی حکومت ذمه واری نه ده، دا د ټول پاکستان ذمه واری ده، دا سره زمونږ د ټول د اپوزیشن د ورونړو، د ټولو، د هر پاکستانی ذمه واری ده چه د دے Situation څه حل رااوځی۔ ډائیلاګ تاسو اوکتل، مونږ ډائیلاګ په سوات کښې روان کړل، د هغے څه انجام شو؟ مونږ نن هم دا وایو که نن هم دوئ Unconditional surrender کوی، نن هم څومره Militants دی په دے صوبه کښې، فاټا ایریا کښې خو که نن هم دوئ خپل Weapons غورځوی او Unconditional surrender کوی او Unconditional خپلے کارروائیانے اودروی، بالکل زمونږ ورونړه دی، مسلمانان دی او که د مسلمانئ حق ادا کول غواړی نو دوئ به اسلحه غورځوی ځکه چه که فورسسز کښې دی، که پولیس مړ کیږی، هم مسلمان دے، که ایف سی والا مړ کیږی نو هم مسلمان دے، که آرمی والا مړ کیږی نو هم مسلمان دے، نو دا سوچ د غه اړخ ته پکار دے۔ صرف حکومت له مشورے ورکول نه بلکه دے Militants ته هم، زما په خیال زمونږه علماء کرام ته پکار دی چه هغوی په دے باندے ښے ښے مشورے ورکړی او په جماعتونو کښې دا خلق پوهه کړی چه دا څه د اسلام او کفر جنګ نه دے روان، مونږه هم مسلمانان یو او هغوی هم مسلمانان دی او چه څنګه ما ګزارش اوکړو چه دا Insurgency ده، It is not an ordinary criminal، دا Law and order situation نه دے، Ordinary criminals نه دی، یو سوچ دے، دا فنانس کیږی۔ بدقسمتئ سره تیر شوی دور کښې زمونږه چه څومره Hidden hands وو او یا هغه ایجنسئ وے چه که هغوی Intelligence سره تعلق لری، هغوی هم په دیکښې ډیره لویه حصه اچولے ده، ډیره لویه برخه ده پکښې دهغوی، د هغوی پکښې یو خپل

سوچ وو۔ د هغے نه واخله تر اوسه پورے دا پرابلمز چه کوم دی، دا Escalate شو په دے باندے بیا، اوس ئے نه هغوی له څه چل ورځی او نه ئے بل چا له چل ورځی، نو بالکل دے سره زمونږه اتفاق دے چه ډائیلاګ پکار دے خو ډئیلاګ هله If there is unconditional surrender on the part of the militants، نو بیا او که نه دوئ وائی چه یو اړخ ته به مونږه ډائیلاګ کوؤ او بل اړخ ته به سکولونه سوزوؤ نو دا بیا ګرانه شوه۔ باقی باجوړ حوالے سره یوه خبره اوشوه۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ارشد عبدالله صاحب، تاسو خو تقریر شروع کړو، دا Winding والا تقریر نه دے، مونږه سره ډیر ممبران پاتی دی او دا به مطلب دادے چه مونږه سبا ته مونږه دغه کوؤ، ما خو دا وئیل که هغه ته څه خاص Specific جواب ورکوئ۔

وزیر قانون: ٹهیک شوه، Right Sir، ٹهیک شوه، ٹهیک شوه جی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: پہلے کہ میں لودھی صاحب کو موقع دے دوں۔۔۔۔۔

وزیر برائے تحفظ حیوانات: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: یو منټ ته کیښنه، زۀ خبره کوم خیر دے، تشریف کیږدئ۔ ښه کوه وایئ، هدایت الله خان۔

وزیر برائے تحفظ حیوانات: جناب سپیکر صاحب، دے ارشد عبدالله صاحب، زما کشر وروړ دے، دا خبره ئے ٹهیک اوکړه خو ما دا خبره د منسټر په حیثیت نه ده کړے، ما د هغے حلقے د ایم پی اے په حیثیت چه دا زما ذمه داری ده، چه کومه خبره ما د وزیرا علیٰ صاحب محترم سره کړے وه او هغوی راسره باقاعده په هغه ورځ، په کومه ورځ دا حالات جوړ شو نو هلته کښ اجلاس شروع وو، د پارلیمانی پارټئ په اجلاس کښ، د هغے نه زۀ رااووتم او ما پسے چټ راغلو د بهر نه او بیا د وزیر اعلیٰ صاحب سره ما خبره اوکړه او هغه بیا دچیف سیکرټری صاحب او حاجی صاحب سره هم خبره اوکړله۔ بیا ما پخپله پرسنل د آئی جی پی صاحب سره ملاقات کړے دے او د چیف سیکرټری صاحب سره مو هم کړے ده خو د هغے نه روستو که چیف سیکرټری صاحب ته زۀ ٹیلیفون کومه نو هغوی وائی چه په سائډ روم کښ دے،

تا ته کوی ټیلی فون۔ د ماښامه پورے انتظار اوکړمه، نه ټیلیفون راشی او نه څه سوال جواب راشی نو د دے وجے نه زۀ دا خبره کوم په دے ځائے کښې، دلته کښې زۀ د ایم پی اے په حیثیت باندے خبره کوم، دا د منسټر په حیثیت باندے نه کومه نو په دے وجه باندے بیا د آئی جی پی صاحب متعلق چه ما خبره اوکړه، دا دے هغوی دلته کښې ناست دی په هاؤس کښې، هغوی باقاعده شته دے ، پرون ماسره ئے دا خبره کړے ده چه یو پلاټون مونږه لیږلے دے او بل روان دے نو د هغے نه روستو د هغے جواب نه هم زۀ، ځکه چه هلته کښې هیڅ هم نه دی تلی تر اوسه پورے ، دریمه ورځ ده د هغے خبرے نو صرف د ایم پی اے په حیثیت باندے دا خبره کوم، د منسټر په حیثیت باندے دا خبره نه کوم۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تاسو یو منټ کښینئ جی، تاسو تشریف کیږدی جی۔ بشیر صاحب۔

جناب بشیر احمد بلور (سینیئر وزیر (بلدیات): جناب سپیکر صاحب، دا لاء اینډ آرډر باندے خبره ده نو په لاء اینډ آرډر باندے چه ملګری خبره اوکړی نو انشاءالله د حکومت د طرف نه به مونږه جواب ورکوؤ۔ زما ورور خبرے اوکړلے، دا کوم چه د باجوړ نه خلق راغلی دی، هغوی په تکلیف کښې دی، زۀ خپل ورور ته دا خبره کوم چه زۀ نن روان یمه نوښار ته، هغه کیمپ به ګورم، سبا به ځم انشاءالله درګئ ته او بیا به ځم تیمرګرے ته، حکومت، مکمل مونږه سره هر څه شته، داسے هیڅ پرابلمز نشته، انشاءالله د هغوی هر یو تکلیف به په موقع باندے حل کوؤ خو چه چا چا ته پرابلم دے ، د میډیکل پرابلم دے ، هغه ما بیګا جی ډی سی او سره خبره کړے ده، آر سی او سره مے خبره اوکړه نوهغوی اووئیل چه مونږه کوشش کوؤ چه هر شے وراورسوؤ خو لږ تکلیف شته دے خو کوشش به حکومت کوی چه څومره وسائل دی، هر Source استعمالوؤ به او انشاءالله دے خلقو ته به هر یو شے رسوؤ او سبا، زۀ ریکویسټ کومه منسټر صاحب ته چه ماسره د لاړ شی چه مونږه هلته کښې تیمرګرے ته هم لاړ شو، مونږه هلته کښې درګئ ته هم لاړ شو او نن د هم ماسره لاړ شی، د دوئ د دے باجوړ نه خلق راغلی دی۔ نو مونږه مردان ته او نوښار ته به لاړ شو، په موقع باندے به انشاءالله آرډرز هم کوؤ، فیصلے به کوؤ، انشاءالله هر څه به ورته رسوؤ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: امید دے چه کومے خبرے منسٹر صاحب اوکڑے او کوم پوائنٹس هغه Raiseکړل، نو That is pertaining to the human beings basic needs، نو دا چه هغه ډائریکشن ورکوی هغه Concerned authorities ته چه فوراً د هغوی Camping proper طریقے سره اوکړی۔ واټر، میډیسن، چه کوم د هغوی ضرویات دی، هغه د مکمل پوره کړی ځکه چه دا یو ډیر اهم Basic needs دی۔ چه څومره ضروریات دی، نو دا ډائریکشنز دی چه دا ټول Complete شی او هغوی هغه پاورز د سیکرټری پراونشنل اسمبلی ورکړی۔

وزیر برائے تحفظ حیوانات: جناب سپیکر صاحب، دا کومه خبره چه ما دلته کښں ذکر اوکړو، ډیر خلق راروان دی، زمونږه په دیر کښں ورته کیمپونه لګیدلی دی۔ اوس دا ضرورت دے چه هغوی ته خوراک اولیږلے شی۔ هغوی ته د صحت د مسئلے نه علاوه د خوراک او د صفائی ډیر زیات ضرورت دے، د بیمارو خوریدو اندیشه ده او د دوئ صحت ته نقصان رسیږی، نو د دوایانو بندوبست د اوکړے شی ګنی غټ نقصان ترے جوړیږی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: هدایت الله صاحب! ټهیک شوه جی، هغه اوشوه، زما رولنګ اوشو۔ ایک منٹ آپ تشریف رکھیں، پھر آپ کو میں موقع دے دیتاہوں۔ پہلے قلندر خان لودھی صاحب کو۔۔۔۔۔

حاجی قلندر خان لودھی: جناب! ٹی بریک آپ کی ہو گئی ہے، ٹی بریک کے بعد یا اگر آپ Continue رکھنا چاہتے ہیں ایسے، اگر Continue رکھنا چاہتے ہیں تو پھر ٹھیک ہے بس۔

جناب ڈپٹی سپیکر: چونکہ آج ٹی بریک نہیں ہے بلکہ ہم اس Sitting کو، Before adjourning this sitting, I request to all the Honourable Members and the Ministers concerned and also I request to the Honourable Chief Minister to be present tomorrow, because the issue is very sensitive and all the Administrative Secretaries are also directed to make sure their attendance tomorrow (Applause) and this sitting is adjourned till tomorrow at 9.30.a.m.

(اسمبلی کا جلاس بروز بدھ مورخہ 20 اگست 2008ء صبح ساڑھے نو بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)